مدني ژوند ټولګي

يوولسم ټولګی

مدني ژوند ټولګی - يوولسم ټولګی

Ketabton.com

د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د
ساينس د مرکزمعينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف
لوی رياست

مدني زده کړې

يوولسم ټولگی

۱۳۹۰
هـ.ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوالان:
- محمد عزیزبختیاری
- پوهنیار محمد فاروق عمرخیل
- مؤلف محمد انور مشفق

ژباړونکي:
- پوهنیار محمد فاروق عمرخیل

مسلکي ایډیټ:

سرمؤلف میرعبیدالله فاضل د مدني زده کړې د ډیپارتمنت علمي غړی

د ژبې ایډیټ:

محمد سهراب دیدار د پشتو دیپارتمنت علمي غړی

دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:

- ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
- داکتر عبدالصبور فخري،
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار.

د څارنې کمیټه:

- داکتر اسد الله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین.
- داکتر شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

طرح و دیزاین:

رحمت الله غفاری

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ



(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افغـــان دی

کور د سولې، کور د تورې — هر بچی یې قهرمـــــان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅـــو، د ازبـــکـــو

د پښتـــون او هزاره وو — د ترکمنـــو، د تـاجـکـــو

ورسره عرب، ګوجـر دي — پامیـریان، نـورستانیـــان

براهوي دي، قزلباش دي — هـــم ایمـــاق، هم پشـه یان

دا هیـــواد به تل ځلېږي — لکـه لـمـر پر شنه آسمان

په سینـه کې د آسیـــا، بـه — لکـــه زړه وي جـاویـــدان

نوم د حق مو دی رهبـــر — وایو الله اکبر وایو الله اکـــبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام
ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

داکتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځیدلې ده.

هیله من یم داکتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو مینديې او پلرونه هم د خپلو لونې او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیارکاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تألیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړ ليک

مدني زده کړي

لمړی څپرکي: ټولنيز کيدل ۱

د څپرکي مو خې ۲

ټولنيزکيدل څه ته وايي؟ ۳

د ټولنيز کيدل لاملونه(۱) ۷

د ټولنيزيدو لاملونه (۲) ۱۱

د ژوند پراوونه ۱۵

د لومړي څپرکي لنډيز ۱۸

دويم څپرکي: ټولنيز نظم ۱۹

د څپرکي موخې ۲۰

ټولنيز نظم څه شی دی؟ ۲۱

د ټولنيز نظم لاملونه(۱) ۲۵

د ټولنيز نظم لاملونه(۲) ۲۹

ټولنيزې سرغړونې(۱) ۳۳

ټولنيزې سرغړ ونې (۲) ۳۷

د څپرکي لنډيز ٤۰

دريم څپرکی ٤۱

د څپرکي موخې ٤۲

ټولنيز بدلونونه څه شی دي؟ ٤۳

ټولنيږو بدلونونو لاملونه (۱) ٤۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنیزو بدلونونو لاملونه(۲) ۵۱
د څیرکی لنډیز ۵٤
څلورم څپرکي: ټولنیزې نابرابری ۵۵
د څپرکی موخې ۵٦
ټولنیزی نابرابری څه شی د ي؟ ۵۷
طبقاتي نابرابري ٦۱
جنسي نابرابري ٦۵
د څلورم څپرکي لنډیز ٦۸
پنځم څپرکی: زمونږ ټولنیزې ستونزې ٦۹
د څپرکي موخې ۷۰
زمونږ ټولنیز مشکلات:بې سوادی ۷۱
زمونږ ټولنیزي ستونځی: نېستي او غریبي ۷۵
زمونږ ټولنیزې ستونزې:(استوګنځی) ۷۹
زمونږ ټولنیزې ستونزې: روغتیا ۸۳
زمونږ ټولنیزی ستونزې: دنیشه یي توکو قا چا ق ۸۷
زمونږ ټولنیزې ستونزې،نا امنی او تر هګري ۹۱
زمونږ ټولنیزې ستونزې: نا چاودلی توکی ۹۵
د پنځم څپرکي لنډیز ۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څپرکی

ټولنیز کیدل

په دې څپرکي کې به لاندې موضوعات زده کړو:

- ټولنیز کیدل څه ته وایي؟
- د ټولنیزکیدو لاملونه (۱)
- د ټولنیزکیدو لاملونه (۲)
- د ژوند پراوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکی موخې

هیله کیږي چې زده کوونکي د دې څپرکي تر لوستلو وروسته:

- د ټولنیزکیدو په معنا او ارزښت وپوهیږي،
- د ټولنیزو اړیکو په ټینګولو کې ډیره تجربه او مهارت تر لاسه کړي،
- د ټولنیزو ارزښتونو منلو ته لیوالتیا وښي،
- د ټولنیزکیدو لاملونه او پرخلکو باندې د هغو د اغېزې د څرنګوالي په اړه وپوهیږي،
- د انسا ن د ژوند له پراوونو او د هغه د ضروري ارزښتونو سره علاقمندي تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنیز کیدل څه ته وایي؟

خبرې اترې وکړئ

پوهېږئ چې خلک په ښایسته ټولنوکې ډول ډول آداب، رواجونه او سلوک لري.
د مثال په ډول: د سلام اچولو او روغبړ کولو لپاره، د نړۍ د وګړو ترمنځ ډول ډول طریقې موجودې دي. دغه ټکي ته په پام سره:

۱- آیا تاسو هغه خلک پېژنئ چې د سلام او روغبړ کولو پر مهال د ښایسته کلماتو او سلوک څخه استفاده کوي؟

۲- ستاسو په اند هغوی ولې ستاسو په شان رفتار نه کوي؟

۳- آیا پوهېږئ چې په مختلفو ټولنو کې څه توپیر موجود دی.

که چېرې له خپل کلي او یا ښار څخه مو نورو ښارونو او یا هېوادونو ته مسافرت کړی وي، هرو مرو به مولیدلي وي چې خلک په ښایسته ښارونو او هېوادونو کې:

- o په ډول ډول ژبو خبرې کوي؛
- o ښایسته جامې اغوندي،
- o ډول، ډول خواړه خوري،
- o په یو ډول مو قعیت کې ډول ډول رفتارونه یا سلوک له ځانه ښکاره کوي.

د دغه توپیرونو په لیدلو سره، د انسان په فکر کې دا پوښتنه پیدا کیږي چې ولې خلک په ښایسته ټولنو کې په ښایسته ډولونو رفتار او سلوک کوي؟

د پورته پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي چې هره ټولنه ځانته ځانګړی فرهنګ لري او په فرهنګ کې د وګړو د رفتار لپاره ښایسته تګلارې په ګوته شوي دي چې د ټولنې غړي د هغو پربنسټ عمل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ټولنيز سلوک او رفتار په ټولنو کې څه ناڅه توپير لري. له دې امله خلک په بېلابېلو هېوادونو کې د مختلفو آدابو، رواجونو او دول دول سلوکونو په لرلو سره لېدل کېږي. ټول ټولنيز ځايونه او سيمې لکه کورنۍ، ښوونځی، کوڅه، اداره او همداسې نور د ځانګړو قواعدو درلودونکي وي. د بيلګې په توګه: د ټولګي د ننه قواعد په پام کې ونيسئ:

۱- آرامه او غلي واوسو.

۲- پر خپلو ځايونو کښينو.

۳- د ښوونکي خبروته غوږ کېږدو.

۴- خپلو ټولګيو الوته مزاحمت ونکړو.

۵- د ښوونکي د خبرو ضروري ټکي له ځانه سره وليکو. دغه ټول د زده کوونکو د سلوک او رفتار يوڅو ضروري بيلګې وې چې بايد په ټولګي کې يې په پام کې ونيسي او له هغو سره سم عمل وکړي.

له ښوونکي څخه هم هيله کېږي چې له ځانګړو کړنو او اصولو څخه پيروی وکړي چې وکولای شي خپله دنده او رول د ښوونکي په توګه ترسره کړي. د مثال په توګه: له ښوونکي څخه هيله کېږي چې:

۱-منظمې او پاکې جامې واغوندي.

۲- له زده کوونکو سره مهربان واوسي او له هغوی سره په مهربانۍ چلند وکړي.

۳- د لوست د ورکړې لپاره په سمه توګه تياری ونيسي.

۴- لوست دې په سمه توګه تشريح کړي.

۵- د ښوونې له ښو او اغېزمنو لارو څخه دې ګټه واخلي.

۶- د زده کوونکو سره په اړيکو کې دې د هغوی ترمنځ توپير نکوي.

۷- د ټولګي نظم دې ټينګ کړي.

ټولنيزکيدل د ژوند په لومړي پړاوکې

په کوچنيوالي کې د ډيرو ټولنيزو ارزښتونو سره پيژند ګلوي نلرو او په ورو، ورو چې لوييږو له هغوسره ډېره پيژند ګلوي ترلاسه کوو او په بېلابېلو ځايونو کې په داسې ډول چلند کوو چې نوريي له موږ څخه توقع لري. دغه چلنداو اصولو ته ټولنپوهان **ټولنيزقواعد** وايي. موږ له کوچينوالي څخه په ناڅاپي توګه د ټولنيزو قواعدو په زده کولو پيل کوو او له دې لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنیز کیږو. **ټولنیزکیدل** په یوځل او په لنډ وخت کې نه تر سره کیږي بلکه د پیدایښت له وخته پیل کیږي که څه هم د ژوند په لومړنیو کلونو کې، د ژوند کولو،دځان او چاپیریال د پاک ساتلو آداب، ټولنیز قواعد او ارزښتونه او همداسې نور ډېر موضوعات زده کوو. لیکن ورو ورو چې لوییږو، زموږ د ژوند شرایط توپیر کوي او موږ باید زده کړو چې په نوي سني پړاو اوکاري شرایطو کې څرنګه رفتار وکړو. د مثال په ډول: کله چې د ځوانۍ لومړنیو پړاوونوته رسېږو، زموږ څخه توقع کیږي چې یولړ چارې تر سره کړو چې ترهغه مو پخوا نه ترسره کولې او یا یولړ چارې موچې پخوا تر سره کولې، نور هغه له دې وروسته تر سره نه کړو. یا هغه وخت چې تازه د زده کړې له بهیر نه وزګارېږو (فارغ التحصیل کیږو) او په کومه اداره یا کارخانې کې چې په کار بوخت کیږو، باید زده کړو چې په هغه نوي چاپېریال کې څرنګه رفتار او عمل وکړو.

د ژوند په اړه معلومات

هغه مهمې چارې چې دټولنیز کیدو په جریان کې زده کوو، کولای شو، لاندې ټکوته ګوته ونیسو:

ټولنیز قواعد او ارزښتونه

د ټولنې غړي د ټولنیزکیدو له لارې د خپلې ټولنې د قواعدو او ارزښتونو سره پېژندګلوي تر لاسه کوي. پوهیږو چې ټولنیز قواعد او ارزښتونه په بېلابېلو ټولنو کې څه ناڅه توپیرلري او د ټولنې غړي باید زده کړې چې په خپله ټولنه کې کومې چارې په کوم ډول ترسره کړي او کومې چارې باید ترسره نکړي.

کاري وړتیاوې او ځانګړنې

ټولنیز ژوند د ځانګړو وړتیاوو غوښتونکی دی. لیکن دغه وړتیاوې چې یوه برخه یې ساده او نورې برخې یې پیچلې دي، باید زده شي چې له زده کړې پرته د هغو په تر سره کولو به ونه توا نېږو. موږ هغه ټول د ژوند په بهیر کې زده کوو.

له نورو سره د اړیکو د ټینګولو څرنګوالی

له نورو سره د اړیکو ټینګول د ټولنیز ژوند یوه اړتیاده له نورو سره د اړیکو په ټینګولو کې بریالیتوب زموږ د ټولنیز ژوند د بریالیتوب لامل ګرځي. د بیلګې په ډول: په ټولنیز ژوند کې لازمه ده چې له خپلو دوستانو سره په مهربانۍ رفتار ولرو او له پردیو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادي ډول اړيکې ولرو. کله چې څوک زموږ لپاره کوم کار ترسره کوي بايد له هغه څخه مننه او قدر داني وکړو او که چېرې زموږ حق ضايع کوي بايد د هغه په وړاندې د مخالفت او ناخوښۍ اظهار وکړو.

د لوست تکراره

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- په مختلفو ټولنو کې وګړی له يوبل څخه په کومو مسايلو کې توپير لري؟
۲-ولې خلک په بېلابېلو هېوادونو کې ډول ډول دودونه لري؟
۳- په ټولګي کې د ښوونکي د رفتار بېلګې کومې دي؟ بيان يې کړئ.
۴- موږ د ټولنې قواعد، رفتارونه او ارزښتونه څرنګه زده کوو؟
۵- موږ د ټولنيزکيدو له لارې کوم څيزونه زده کوو؟
۶- له نورو سره اړيکې درلودل څه اهميت لري؟
۷- د انسان عاطفي رفتار څه ډول وي؟ يو مثال راوړي.

کورنۍ دنده

يو دوه کلن ماشوم د يو نوي پيداشوي ماشوم سره پرتله کړئ او په ګوته کړئ چې:
۱- د دوه کلن ماشوم کوم څيزونه زده دي چې ديو نوي پيداشوي ماشوم زده ندي.(د مثال په توګه: کولای شئ چې لاندې چاروته پام وکړئ: خبرې کول، په لاره تلل، لوبې کول، خنديدل، د کورنۍ د غړو پيژندل، او .....)
۲- د خپلو لېدنو پايلې په خپلو کتابچو کې له ځانه سره وليکئ او په راتلونکي ساعت کې يې ټولګي ته له ځانه سره راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنيزکيدو لاملونه(۱)

په تير لوست کې مو ولوستل چې انسان د خپلې ټولنې د قواعدو او ارزښتونو په زده کولو سره ټولنيز ژوند او ټولنيز شخصيت پيدا کوي او په يوه ټولنه کې د ژوند کولو لپاره لازمه پوهه او وړتيا تر لاسه کوي. په دې لوست کې غواړو چې دغه مطلب له لږې څرګندونې سره د ټولنيزکيدو د لاملونو په اړه وڅيړو.

پرتله يې کړئ

کورنۍ او د هم لوبو ډله د انسان د ټولنيزکيدو د لاملونو له ډلې څخه يو لامل ګڼل کېږي، ستاسو په اند:

۱- ماشوم کوم څيزونه د کورنۍ په چاپيريال او کوم څيزونه د خپلو همزولو او هم لوبو په ډله کې زده کوي،

۲- د ټولنيزکيدو له اړخه، کورنۍ ډېر ارزښت لري او که د همزولو او هم لوبو ډله؟ ولې؟

کورنۍ

کورنۍ هغه ډله او هغه چاپيريال دی چې غړې يې د نسبي او نسبتي تړاوونو له امله له يو بل سره دوامداره، ټينګې او نږدې اړيکې لري. ماشوم په يوه کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړوي او د کورنۍ غړي لومړنۍ خلک دي چې هغه يې پيژني. ماشوم د خپل ژوند په لومړنيو کلونو کې د ټولنيزو ارزښتونو او اصولو په زده کولوکې ډېر تياری لري، ځکه چې د پيدايښت په پېل کې هغه د يوې سپينې تختې په څېر له هر ډول خبرتياوو، معلوماتو او وړتياوو څخه تش دی او دا کورنۍ ده چې په دغو حساسو کلونو کې ماشوم ته ټولنيزقواعد او ارزښتونه ور زده کوي. د مثال په توګه: مور په کورنۍ کې زده کوو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- څرنګه خبرې وکړو،
- خپل مور پلارته او د کورنۍ مشرانو او لويانو ته درناوی وکړو،
- څرنګه د خپل ځان او چاپيريال پاکوالی وساتو.
- د خپلې کورنۍ له غړو سره مينه ولرو،
- څرنګه له نورو سره رفتار او ژوند وکړو،
- ښه او بد يوله بل څخه جلا کړو،
- په ديني عقايدو او ارزښتونو باور وکړو،

کورنۍ د آدابو او د ژوند کولو ځينې لارې چارې په قصدي توګه او د يو پلان او موخې له مخې نوي نسل ته ورښيي، خو د دغو آدابو يوه برخه په ناڅاپي او غير قصدي ډول زده کېږي.

د بيلګې په ډول: د والدينو(پلار او مور) اخلاق کېدای شي چې د يو اخلاقي نمونې په توګه د هغوی ماشومانوته وليږدول شي، په داسې حال کې چې ښايې دوی ونه غواړي چې د هغوی ماشومان دې د دوی لاره ونيسي(د هغوی د اخلاقو تقليد دې وکړي) نو په دې توګه، که چېرې پلار او مور د ښه اخلاقو او ښو رفتارونو څښتنان وي د هغوی او لادونه به هم د ښو اخلاقو څښتنان شي ا و برعکس که هغوی بد رفتاره او بد خويه وي د هغوی او لادونه به هم د دغه اخلاقو تقليد کوي او هغه به زده کوي، ځکه چې پلار او مور د خپلو او لادونود شخصيت مهمې بېلګې اوښکارندوی دي. د مور او پلار په څنګ کې د کورنۍ نور غړي د کوچنيانو نږدې خپلوان چې تل هغوی سره تګ او راتګ لري او يا تل ورسره اړيکې لري د کوچني په شخصيت نېغ په نيغه اغېزه لري. په ځانګړې توګه مشران ورونه او خويندې، ترونه، د تره زامن، تروړګانې او نيکونه او د هغو په شان نور چې تل يې د کوچني سره سروکاروي د کوچني د شخصيت په جوړولو کې مستقيمه اغېزه لري.

له دې امله چې په هر هېواد کې مذهبي، قومي، طبقاتي کوچني فرهنګونه مو جود دي چې دا کوچني فرهنګونه دکو رنۍ له خوا ساتل کېږي او رواج پيدا کوي. نوی نسل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ له خوا په ځانګړو کوچنیوفرهنګونو تړاو پیدا کوي نوله همدې امله، کورنۍ د ماشومانو د شخصیت په تشکل او د هغوی د هیلو او ارزښتونو په ټاکلوکې ارزښتناکه وندې لري. خو دا باید په پام کې ولرو چې د کورنۍ، ټولنې او چاپیریال اغېزې پر انسان باندې د هغه د واک دله منځه وړلو یا لیرې کولو په معنا نده. په حقیقت کې د کورنۍ له چاپیریال او نړۍ خپلوانو سره اړیکې د کوچني د شخصیت د تشکل لومړنی او جوړونکی لامل شمېرل کېږي.

په افغاني ټولنه کې د مور شخصیت د کوچني د کړو وړو او اخلاقو په توجیه کې د کورنۍ د هر غړي په پرتله ډېر اغېزمن دی.

دهم لوبو او همزولو ډله

ماشومان ورو ورو د کورنۍ له چاپېریال څخه د بهر په لورګام پورته کوي او د خپلو همزولو سره په لوبو او تفریح پیل کوي. ماشومان په لوبوکې ټولنیز رولونه لوبوي او له دې لارې د مهمو ټولنیزو رولونو، لکه د **پلار، او مور، ښوونکي، پولیس،** او داسی نورو سره پیژند ګلوي تر لاسه کوي. ماشومان د دغو رولونو په تر سره کولو سره د مهمو ټولنیزو رولونو سره پیژندګلوی ترلاسه کوي او په راتلونکي کې د دغو رولونو د تر سره کولو لپاره تیاریږي.

سربیره پردې، ماشومان د دغو لوبو له لارې زده کوي چې څرنګه یوله بل سره اړیکې ټینګې کړي، څرنګه مخالفت وکړي، څرنګه هوکړه او موافقه وکړي، څرنګه دښمني او شخړه وکړي او څرنګه سوله وکړي. دغه چارې ښایې په ښکاره کې ساده په نظر راشي خو د ټولنیز ژوند لپاره ډېر اړینې او مهمې دي. همزولي او هم لوبي د ماشوم پر شخصیت او رفتار باندې ژور اغېز کوي. هغوی له یو بل څخه د جامو مډل، ځانګړي اصطلاحات او خاص رفتارونه زده کوي او د خبرواترو له لارې چې د خپلو همزولو سره بې کوي د خپلو هیلو او غوښتنو کچه په ډاګه کوي. سر بیره پردې د همزولو ترمنځ داسې خلک هم شته چې د مشرۍ(رهبرۍ) رول ترسره کوي او نور دهغه له شخصیت، رفتار او اخلاقونه پیروي کوي. داسې خلک پر خپلونورو همزولو باندې ډیره اغیزه کوي. دغه ټکي ته په پاملرنې سره هغه ژور او پراخ تاثیرات چې همزولي بې کولای شي پر مور ولري، باید کوښښ وکړو چې خپل دوستان د پیژند ګلوی او دقت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې وټاکو او هېڅ کله د بدو دوستانو لار ونه نیسو. د هغوی د ناوړه افکارو او عملونو څخه هیڅکله هم پیروي ونکړو.

د اسلام ستر پیامبر ﷺ دې ټګي ته پام کړي او په ښکاره ډول بې خپل پیروان دې مهمې موضوع ته متوجه کړی دی او فرمایي: هر وګړی د خپل دوست پر دین وي او له تاسو نه هر یوباید پام وکړي چې له چاسره د دوستۍ پیمان تړئ.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱ـ کورنۍ د ټولنیز کیدو په برخه کې څه اهمیت لري؟

۲ـ د کورنیو د غړو تر منځ اړیکې څرنګه وي؟ بیان یې کړئ.

۳ـ انسان د ژوند په کومو پراوونو کې ډیرو زده کړوته تیاری لري؟

۴ـ مور په کورنۍ کې کوم څیزونه زده کوو؟

۵ـ کورنۍ څرنګه زمور شخصیت جوړ وي؟

۶ـ په کورنۍ کې څوک له ټول زیات د کوچني په شخصیت اغېزمن دی؟

۷ـ له مور او پلار نه پرته نور کوم وګړي د کوچني د شخصیت په جوړښت کې اغېزمن دي؟

۸ـ مور د خپلو همزولو له لوبو څخه کوم کارونه زده کوو؟

۹ـ کوچنیان له همزولو او هم لوبو سره د اړیکو له امله کوم رولونه زده کوي؟

۱ـ د خپل هم لوبو او ښودوستانو په ټاکلو کې کوم مسؤولیتونه مور ته متوجه دی؟

کورنۍ دنده

له خپلو دوستانو او د کورنۍ له غړو سره د کورنۍ او د همزولو او هم لوبو په اړه سلا وکړئ او هغه کارونه چې مور یې د دوی له هریوه نه زده کوو په یو لست کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنيزکيدو لاملونه(۲)

په تير لوست کې مو د ټولنيزيدو دوه لاملونه وپېژندل او په دې لوست کې به د ټولنيزکيدو د نورو لاملونو سره پيژند ګلوي تر لاسه کړو.

خبرې اترې وکړئ

ښوونځی او ټولنيزې رسنۍ د ټولنيزکيدو دوه نور لاملونه دي. ستاسو په اند:

۱- په ښوونځي کې کوم شيان زده کوو؟

۲- له رسنيو څخه کوم څيزونه زده کوو؟

۳- د ټولنيزکيدلو د لاملونو له ډلې څخه يې کوم يو ښه دی؟ ولې؟

ښوونځی

په معاصرو بېلابېلو ټولنو کې نژدې ټول ماشومان د اوه کلنۍ په عمر ښوونځي ته لېږي. نن ورځ داسې علوم، تخصص او زده کړې اړيني دي چې کورنۍ نه شی کولای هغه خپلو ماشومانوته ور زده کړي، نوله همدې امله ښوونځي دغه وظيفه پر غاړه اخيستې ده. ښوونځی ماشومانوته د لوستلو، ليکلو او شمېرلو وړتياوې او مهارتونه ور زده کوي.

همدارنګه ماشومان په ښوونځي کې د ټولنيز ژوند له اړينو چارو او برخو سره، ديني چارو تاريخ، جغرافيه، کيمیا، فزيک، رياضي، او عقايدو سره پيژند ګلوی تر لاسه کوي او هغه زده کوي. ښوونځی هغه لومړنی رسمي چاپېريال دی چې ماشوم له هغه سره مخامخ کېږي. ماشوم په ښوونځي کې د رسمي رولونو او دندو سره تړاو نيسي.

د خلکو تعاملات اوچلند يو له بل سره په ښوونځي کې عاطفي نه دي بلکه اړيکې او چلندونه په دې چاپېريال کې رسمي او غير عاطفي وي. له هغو موضاعاتو او چارو سربېره چې په رسمي توګه په ښوونځي کې زده کوونکو ته ورښودل کېږي، ډېرې خبرې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضاعات او اصول شته چې زده کوونکو ته په نا خبره او ناڅاپي ډول ورښودل کېږي.
د بیلګې په توګه:
زده کوونکي د ښوونځي د ورځني پروګرام ترڅنګ زده کوي چې:
۱- نظم مراعات کړي،
۲- پاکوالی په پام کې ولري،
۳- نوبت په پام کې ونیسي،
۴- د ښوونځي د چارواکو داوامرو پیروی وکړي،
۵- په زده کړه، لوستلو او نورو ټولو ښوکارونو کې له نورو سره سیالي وکړي،
۶- د بریالیتوب د لاسته راوړلو لپاره کوښښ وکړي،
د ښوونځي تر څنګه جومات هم د زده کوونکو د ټولنیزې وړتیا په لوړولو کې ډېر مهم او رغوونکی رول لري. کوچنیان په جومات کې د تعلیم له طریقه دا زده کوي چې له استاد، مشرانو او مقدسو ځایونو په وړاندې باید په ځانګړي ډول برخورد وشی او دیني مظاهرو او شعایروته د ژوند د نورو مظاهرو په پرتله ډېر درناوی وکړي. په کوچنیانو کې په بنسټیزه توګه ایماني تمایلات او مینه په جومات کې د تعلیم کولو له پړاونه پیل کېږي. همدارنګه د جماعت په لمانځه کې ګډون هم په هغوی کې ایماني جذبې لا بډایې کوي. د کوچني اړیکې له هغو کسانو سره چې جومات ته د عبادت کولو لپاره تګ راتګ کوي تقویه کېږي.
له جومات نه وروسته د ژوند چاپېریال او ماحول هم د کوچني په ژوند ډېره اغېزه کوي، ټولنیز مراسم او هغه عمومي پروګرامونه چې د هغه له امله د ښار او کلي ځینې خلک را ټولیږي هم د کوچني پر شخصیت اغېزه کوي.

ډله ییزه رسنۍ

په تیرو وختونکې به خلکو خپل د اړتیا وړ معلومات زیاتره د شخصي اړیکو له لارې او یا د نورو خلکو له لارې تر لاسه کول خو نن ورځ ټولنیزې رسنۍ معلومات په ډیره چټکتیا سره ډېرو خلکو ته رسوي.
د ټولنیزو رسنیو وسایل په لاندې ډول دي: رادیو، تلویزون، انټرنیت، ورځپاڼه او مجله. موږ او ډېر نورکسان خپل زیاتره وخت د ورځپاڼو یا مجلو په لوستلو، رادیوته په غوږ نیولو، د تلویزون په لیدلو یا سینماته په ورتګ تېروو. په ځانګړې توګه په ښارونو او هغو کلو کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بريښنا انرژی شتون لري او تلويزوني شبکې او چېنلونه فعاليت ولري، ماشومان له نورو څخه ډېر خپل وخت د تلويزون په لېدلو تېروي. ټولنيزې رسنۍ نژدې د هرشي په اړه خپلو اوريدونکو او ليدونکوته معلومات ورکوي. د مثال په توګه: د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د ورځنيو پېښو خبر ورکوي، د هوا او موسم حالات څرګندوي، د علمي او تکنالوژۍ په اړوند او د پرمختګونو په اړه معلومات او خبرونه خپروي، تاريخي پېښې تشريح او بيانوي، د نړۍ د بېلابېلو وګړو د ژوند، فرهنګ او د ژوند د لارو چارو په اړه خبرې اترې او خبرونه خپروي، د نړۍ د ملتونو عقايد، ارزښتونه او رواجونه تشريح کوي او د هغو پټ اړخونه څرګندوي.

د معلوماتو او خبرونو د پراخې کچې او اندازې په نظرکې نيولو سره چې د رسنيو لخوا خپرېږي او همدارنګه هغې پراخې ګټې ته په پام سره چې د رسنيو څخه اخيستل کېږي، کولای شو دا اټکل وکړو چې رسنۍ د خلکو پر فکر، احساس، عقايدو او دودونو څومره ژور او پراخه اغېزه کولای شي.

بايد په پام کې ولرو چې ټولنيزې رسنۍ ،کيدای شي مثبته يا منفي اغيزه ولري.د بېلګې په توګه:که چېرې په دقيقه اوکره توګه وکارول شي کولی شي چې د ارزښتونو، قواعدو او ځايې عقايدو او رواجونو د ځواکمن کېدو لامل شي او ملي يووالی او هويت ځواکمن کړي. ليکن له هغه پرته همدغه وسايل کولی شي چې د مذهبی اوفرهنګي ارزښتونو او رواجونو د ويجاړۍ لامل وګرځي او ملي يووالي او هويت ته زيان ورسوي.

ډله ييزه رسنۍ او د ډله ييزو اړيکو وسايل د انسان عقل او شخصيت ته د جهت ورکولو او تشکل وسايل شمېرل کېږي.که چېرته له هغو څخه د يو هېواد په آبادولو او سالمه لارښوونه کې ګټه واخيستل شي، کولای شي هغه ملت يو حيرانوونکي پرمختګ او تمدن ته ورسوي. اوکه د دښمن په لاس کې ولويږي نو له هغه نه به يوه تباه کوونکې وسيله جوړه شي چې د هېواد اوس او راتلوونکې به له تباهۍ سره مخامخ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- وروسته له کورنۍ، هم لوبو او دوستانونه کوم شي کولای شي چې د انسان په شخصیت اغېزه وکړي.

۲- ولې کورنۍ خپل اولادونه وروسته له اووه کلنې نه ښوونځي ته استوي؟

۳- ښوونځی کوچنیانو ته کومې وړتیاوې ورزده کوي؟

۴- د وګړو کړه وړه په ښوونځي کې باید څرنګه وي؟

۵- په جومات کې کوچنیان کوم شیان زده کوي؟

۶- د ژوند چاپیریال کوچني او تنکي ځوانان څنګه رهبري کوي؟

۷- ډله ییزه رسنۍ څه شی ته وایي؟

کورنۍ دنده

په افغانستان کې په ډله ییزو رسنیو او د هغو په پروګرامونو باندې رڼا واچوئ او د هغو مثبتې او منفي اغېزې په دوه مخونو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند پراوونه

فکر وکړئ او ځواب ورکړئ

انسان د عمر له پلوه په ژوند کې څو پراوونه تېروي . له ټولنیز اړخه، هر یو د دغو پراوونو څخه د ځانګړو ارزښتونو او اصولو درلودونکي دي چې باید په پام کې ونیول شي.

دغه واقعیت ته په پام سره، لاندې پوښتنوته ځواب ورکړئ:

۱- د عمر پراوونه کوم دي؟

۲- د هرسنی پراو ارزښتونه او اصول کوم دي؟

ټولنپوهانو د انسان د ژوند لپاره ډیر شمېر پراوونه بیان کړي دي. دغه پراوونه په بنسټیزه توګه د ژوند اړوند دي خو د انسان د ژوند اړوند پراوونه په عین حال کې ټولنیز هم دي. په ټولنه کې د انسان د ژوند هر پراو له بل پراو څخه توپیر لري.

ځکه نو موږ باید زده کړو چې د ژوند په هر پراو کې څه ډول رفتار وکړو. د دغو پراوونو او له هغوی سره جوخت د متناسبو ارزښتونو پېژندل کولی شي له موږ سره د ژوند په پوهېدنه او پېژندنه کې مرسته وکړي. په دغه لوست کې د انسان د ژوند بېلابېل پراوونه څېړو:

د وړکتوب پراو

د وړکتوب پراو پخوا ډېر لنډ وه، له دې امله چې کوچنیان ډېر ژر په کروندو او کار ځایونوکې په کار ګمارل کېدل او له لویانو سره بې اوږه په اوږه کار کاوه. خو په اوس وخت کې نړۍ په ټوله نړۍ کې کوچنیان په ډیره هوساینه کې ژوند کوي او په تفریح او زده کړه بوخت وي.

د وړکتوب یا کوچینیوالي موده د انسان د ناتوانۍ او ناپوهۍ موده ده. له همدې امله، پلار او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور او د کورنۍ مشران هڅه کوي چې د خپلوکوچنيانو لپاره خوندي او مناسب شرايط چمتو کړي چې د هغوی کوچنيان د ټولنيز ژوند له پلوه پرمختګ وکړي. کوچنيان په ټيټو عمرونو کې ډېر په تفريح او لوبو بوخت وي او پلار او مور د کوچنيانو لپاره د لوبو ډول ډول وسايل چمتو کوي او د هغوی لپاره خوندي او مناسب شرايط برابروي چې وخت په خوښۍ تير کړي. نن ورځ د کوچنيانو لپاره ځانګړي کتابونه چې په هغو کې ډېر له انځورونو او تصويرونو څخه ګټه اخيستل کېږي او همدارنګه تلويزيوني خپرونې د هغو د بوختيا او د ژوند د لارو چارو د زده کړې لپاره چمتو کېږي.

کوچنيان معمولاً له کار، اقتصادي بوختيا او چارو معاف دي او ډېر ټولنيز او د کورنۍ مسؤوليتونه او دندې دوی ته نه سپارل کېږي. کوچنيان له شپږ کلنې نه وروسته په پټو ستر ګو تقليد کوي او له هر چانه زيات د مور او پلار، مشرانو ورونو او خويندونه اغېزمن کېږي. خو له اووه کلنۍ نه وروسته د ژوند مسئلې او وړتياوې په دوه طريقو زده کوي:

يوه طريقه له چاپيريال، دوستانو، کورنۍ، رسنيو او داسې نورو نه په ناخبره توګه اغېزمن کېږي. او دوهم دا چې لوست او تلقين زده کوي. اوسني کوچنيان تر اتلس کلنۍ پورې د ژوند کوم لوی مسؤوليت نه لري او که چېرته کومه تېروتنه وکړي نو د لويانو په شان سزا نه ورکول کېږي. خو په اسلامي تعاليمو کې د کوچنيانو د ودې سن له اتلس کلنۍ څخه ټيټ ټاکل شوی دی. په اسلامي فقه کې د هلک او نجلی احتلام ته رسيدل د هغوی د کوچني والی او ځوانۍ ته د رسيدو سرحد بلل کېږي. کله چې هلکان او نجونی احتلام ته رسيږي د ټولنيز او اخلاقو له پلوه هم په هغوکې بدلونونه راځي. له دې بدلونونو څخه يو يې هم د مسؤوليت مننې حس دی.

د ځوانۍ پراو

ځواني چې له اتلس کلنۍ څخه پيل کېږي، د انسان د ژوند له پراوونو څخه يو ضروري پراو ګڼل کېږي. د دغې مودې لومړني کلونه د ډيرو خلکو لپاره د لوړو زده کړو د تر سره کولو موده ده. همدارنګه ډير ځوانان واده کوي اوکورنۍجوړوي. د هغو له ضروري پېښو څخه چې کيدای شی د ژوند په دغه پراو کې پيښ شی، يو هم په يوه دنده بوختيا ده چې ممکن د ژوند تر وروستيو په هغه دنده کې پاتی شې او هغې دندې ته دوام ورکړي. د ژوند دغه پراو د يوه ځانګړي سبک لرلو ته اړدی چې په ښلابښلو ټولنوکې توپيرلري. ځوانان په ښلابښلو ټولنو کښې دلويانوپه پرتله مختلفې جامې اغوندي او د رفتار او کړو وړو له اړخه هم ډير فعال او ځواکمن وي. په ټولیزه توګه، د ځوانانو د ژوند سبک د لويانو په پرتله تر ډېرې کچې توپير لري. کابو په ټولو ټولنوکې ډېر اړين مسؤوليتونه ځوانانو ته نه سپارل کېږي. له دي امله چې هغوی د ژوند په ځينو برخو کې له اړينې تجربې څخه برخمن ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عمر منځنی پړاو

د عمر منځنۍ موده چې له۳۰ کلنۍ څخه پیلېږي، د خپلو ځانګړو غوښتنو او اصولو درلودونکی ده. په دغه موده کې خلک د چارو د تر سره کولو لپاره اړینه انرژي لري او هم بې له ژوند څخه یوه ښه تجربه ترلاسه کړې وي. له دې امله کولای شو چې د ژوند دغه پړاو ته د خلکو د عمر د پخوالي پړاو ووایو. له همدې امله ده چې د کورنۍ او ټولنې په سطح اړین مسؤولیتونه معمولاً هغو خلکوته چې د عمر له پلوه په دغه پړاو کې وي، سپارل کېږي.

خلک د منځني عمر لرونکو څخه هیله لري چې د دغه پړاو خاص ارزښتونه، قواعد او آداب رعایت کړي. له هغوی څخه هیله کېږي چې د جامو په اغوستلو، کړووړواوناسته ولاړه کې د ځوانانو په پرتله ځان تکړه اوځواکمن وښیي. ډیر هغه کړه وړه چې د هغو تر سره کول د ځوانانو لپاره د مننې وړ اوښه بریښي، امکان لري چې د منځني عمر لرونکو خلکولپاره د هغو تر سره کول ښه او د مننې وړنه وي. ځوانان چې ورو ورو د منځني عمر پړاوته نږدې کېږي، د دې پړاو آداب او قواعد زده کوي.

د ډیر عمر (بوډا والي) پړاو

د انسان د ژوند وروستی پړاو د بوډاتو ب پړاو دی. په مذهبي او سنتي ټولنو کې، د بوډاتوب دوره د عزت او احترام پړاو دی. په دغو ټولنو کې، د بوډاګانو فزیکي فعالیتونه کمرنګه کېږي لیکن د هغوی فکري مشارکت ډېریږي. د ډېر عمرونو لرونکي خلک (بوډاګان) د ډېرو تجربو د لرلو له امله پریکړې کوي او یا هم لږ ترلږه له دوی سره سلاکېږي. لیکن په معاصرو او پرمختللو ټولنو کې، د ډیر عمر لرونکو خلکو حالت توپیر کوي.هلته کله چې خلک د ژوند دغه پړاوته ورسېږي، متقاعد کېږي او خپل ځای باید د ټولنې ځوانانو ته ور پرېږدي. خو د اسلام د مقدس دین له نظره لویان ډیر حقوق لري چې له هغې ډلې نه د هغوی د مادي او معنوي اړتیاوو پوره کولو نه یادونه وکړو. کورنۍ باید لویانو ته درناوی وکړي او د هغوی د ژوند اړتیاوې لکه، خواړه،پوښاک، او استو ګن ځای ورته پوره کړي او تر خپله وسه د هغوی ستونزې حل کړي، که چېرته ناروغ شي، هغوی باید د علاج لپاره ډاکتر او یا روغتون ته بوځي. که چیرته کوم شي ته اړتیا پیدا کړي ،باید پوره شي او ښه سلوک ورسره وشي. او د خدای (جل جلاله) د رضا په خاطر هغوی ته د هو ساینې اوآرامه ژوند زمینه مساعده کړي، د هغوی په وړاندې له سپکاوي اوبد سلوک نه ډډه وشي. که چیرته لویان(بوډاګان) خپلوان ونه لري دولتونه مکلف دي د دوی د اعاشې، اباتې او د ژوند د هوساینې او سوکالۍ د وسایلو پوره کول په غاړه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- انسان د ټولنیز ژوند په موده کې کوم پړاونه تیروي؟
۲- د کو چنیوالي په پړاوکې د مور او پلار دندې د کوچنیانو په وړاندې څه شی دي؟
۳- د کوچنیوالي پړاو کومې ځانګړنې لري؟
۴- د ځواني دوران له خوکلنۍ نه پیل کېږي او دا پړاو ځوانانو ته څه ارزښت لري؟
۵- د منځني سن پړاو کومې ځانګړتیاوې لري؟
۶- ولې د ډیر عمر خاوندان د پریکړې او تصمیم نیولو په سرکې ځای لري؟
۷- د اسلامي نړۍ او د غرب نړۍ د بوډاګانو د موقف او موقعیت توپیر په څه شي کې دی؟

کورنۍ دنده

د کوچنیوالي او ځوانۍ پړاو پرتله کړئ.

د لومړي څېړکي لنډیز

• هره ټولنه خپل ځانګړی فرهنګ لري اوپه فرهنګ کې داسې اصول او قواعد ځای لري چې د ټولنې غړي د خپلو کړو وړو په ترڅ کې په هغو عمل کوي.
• له نورو سره اړیکې در لودل دټولنیز ژوند یوه اړتیاده.له نورو سره په اړیکو در لودلو کې بریالیتوب، په ټولنیز ژوند کې زموږ د بریالیتوب لامل کرځي.
• کورنۍ او د هم لوبو ګروپونه د انسان د اجتماعي کیدو له لاملونو څخه شمېرل کېږي.
• کورنۍ هغه ډله ده چې غړي یې د نسبي اونسبتي تړاوونو له امله له یو بل سره دوامداره ټینګې اونږدې اړیکې لري.
• ښوونځی اوډله ییزې رسنۍ هم د ټولنیز کېدو دوه نورلاملونه ګڼل کېږي.
•ټولنیزې رسنۍ په لږوخت په ډېره چټکتیا سره اطلاعات رسوي. چې دا رسنۍ له رادیو، تلویزیون، انټرنیټ،ورځپاڼو، مجلو اونورو څخه عبارت دي.
• د کوچنیوالي پړاو، د ځوانۍ پړاو، د منځني عمر پړاو او د بوډاتوب پړاو د انسانانو د ژوند بېلابېل پړاوونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم څپرکي

ټولنيز نظم

په دې فصل کې لاندې موضوعات زده کوو؛

- ټولنيز نظم څه شی دی؟
- د ټولنيز نظم لاملونه (۱)
- د ټولنيز نظم لاملونه (۲)
- ټولنيزې سرغړونې او د هغو ډولونه (۳)
- ټولنيزې سرغړونې او د هغو ډولونه (۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

هیله کېږي چې زده کوونکي د دې څپرکي تر لوستلو وروسته:

- د ټولنیز نظم معنا او ارزښت وپیژني،
- د ټولنیز نظم د لاملونو سره پېژند ګلوی تر لاسه کړي،
- د ټولنیز نظم له رامنځته کولو سره علاقه مند شي،
- ټولنیزې سرغړونې وپېژني،
- د ټولنیزوسرغړونو لاملونه وپېژني،
- له قانون سره علاقمند شي،
- له ټولنیزو جرمونو او سرغړونو څخه کرکه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيز نظم څه شی دی؟

پرتله يې کړئ

لاندې پوښتنې ولولئ او بيا د هغو په اړه خبرې اترې وکړئ:

۱- آيا تاسو د شاتو د مچيو او يا د مېږيو خونه ليدلې ده او پوهېږئ چې هغوی څرنګه ژوند کوي؟

۲- د شاتو د مچيو او د انسان د ژوند تر منځ څه توپيرونه او ورته والی وينئ؟

څرنګه چې پوهېږو انساني ټولنه له ډيرو وګړو او ډلو څخه رامنځته کېږي، د دغو ډيرو وګړو د شتون، دګروپونو د ډولونو او په اړيکو کې د اختلاف سره سره ټولنه په دوامداره توګه د يو نظم او سمون څخه برخمنه وي چې مور ېکولی شو په هغې کې په هو ساينه ژوند وکړو.

د دغې مسئلې د پوهيدو لپاره يو مثال راوړو: ښايي تاسو د شاتو د مچيو او يا مېږيوخونه ليدلې وي. د شاتو مچی او مېږې ټولنيز ژوند لري او ډير شمېر يې په يوه خونه کې ژوند کوي. ټولنيز ژوند په دې معنادی چې هريو يې يوه ځانګړې دنده پرغاړه اخيستې او په ښه توګه يې تر سره کوي.کله چې په سل ګونو مچی په يو ځای کې سره ژوند کوي، که چېرې د دوی ترمنځ کره نظم او همغږی وجود ونه لري، د هغوی ټولنيز ژوند به ډېر ژر له منځه ولاړ شي او دوام به ونه مومي. هغه څه چې د شاتومچی او يا مېږيان د يو بل تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګ را ټولوي هغه ځانګړې غريزه ده چې خدای (جل جلاله) د دوی په وجود کې نعښتې ده. هغوی له دې پرته چې د خپلو مشرانو او لوړو چارواکو له حکمونو څخه سرغړونه وکړي، خپلې چارې مخته بيايي او لامل يې دادی چې دوی په همدا شان پيدا شوي دي او له هغه پرته څه نه شي کولای.

د انسان ژوند څه ناڅه د شاتو د مچيو ژوند ته ورته دی. ځکه چې انسانان هم ټولنيز ژوند لري، ډېرشمېر خلک په يوه ټولنه کې ژوند کوي، له يوبل سره اړيکې لري او له يوبل سره مرسته کوي. ليکن د انسان د ژوند او د شاتو د مچيو د ژوند تر منځ يو بنسټيز توپيرشته او هغه هم دادې چې: کوم عامل يا لامل چې انسانان د يوبل ترڅنګ سره راټولوي او د ټولنيز ژوند امکان ورته چمتو کوي، پيدايشي خاصيت نه دی بلکه ارزښتونه، قواعد، قانون او په ټولنيزه توګه يو فرهنګ دی. د نظم مننه د انسانانو له خوا په ارادي او عقلمندۍ سره منځ ته راځي خو د شاتو د مچيو نظم غير ارادي او فطري بڼه لري.

ټولنيز نظم څه شی دی؟

د دې لپاره چې د دغې موضوع په مفهوم په ښه توګه وپوهېږو، ټولنيز نظم په دوو کوچنيو او لويوکچو تر څېړنې لاندې نيسو.

کوچنۍ کچه (سطح)

په کوچنۍ کچه له ټولنيز نظم څخه موخه او منظور دادی چې د ټولنې وګړي په آسانۍ سره د يوبل په کړو وړو پوهېږي او درک کوي يې، له دې امله هغوی کولای شي چې د يوبل له کړووړو نه وړاند وينه وکړي او په آسانۍ له يوبل سره اړيکې را منځته کړي. د بيلګې په توګه: کله چې تاسو د يو توکي د پېرېدو لپاره يو دوکان ته ورځئ، خپله غوښتنه ورته بيانوئ او هغه ستاسو په منظور پوهېږي او که چېرته ستاسو د اړتيا وړ توکی ولري، هغه توکی تاسوته درکوي او په بدل کې يې خپلې پيسې اخلي.

دغه موضوع چې په ښکاره ډېره ساده برېښي، په حقيقت کې ډېره پېچلې او په عين حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره ضروري ده. ستاسو اړيکه له دوکاندار سره په دې سبب په ډېره سادګۍ رامنځته شوه چې تاسو دواړو يوه ګډه او مشترکه ژبه درلوده او د ګډو ارزښتونو او اصولو څخه برخمن وئ. او که چېرې هغه يو پردی موجود وي او ستاسو د ارزښتونو او فرهنګي اصولو سره آشنايي ونه لري، تاسو نه شي کولی چې يوله بل سره په آسانۍ اړيکی ټينګې کړئ.

نو مونږ له دې امله کولای شوچې له خلکو سره اړيکې ټينګې کړو چې مونږ ټول د ګډو ارزښتونو او قواعدو څخه برخمن يو. مونږ کولای شو د نورو د احتمالي کړووړو او رفتارونو اټکل وکړو او د هغه پر بنسټ، له هغوی سره چلند وکړو.

لويه کچه (**سطح**)

کله چې د نظم په هکله په لويه کچه خبرې کوو، زمونږ موخه په بېلابېلو ګوندونو، ډلو، بنسټونو او په ټوله ټولنه کې نظم دی. د بيلګې په توګه: کله چې تاسو سهار وخته: نانوايي ته ځئ او ډوډۍ رانيسئ، بېرته کورته راځئ او د سهار ډوډۍ خورئ او د ښوونځی په لور روانېږئ ښوونځي ته ځئ او درس لولئ، هيڅکله دغو ځايونوته د تګ څخه مخکې شک او ګومان نه کوئ چې امکان لري نن **نانوايي، کور** او يا هم **ښوونځی**خپل ورځني کارته دوام ورنه کړي او په بل کار بوخت وي. له دې څخه څرګندېږي چې ټولنه د يو ډول نظم او قواعدو څخه برخمنه ده چې هرشی پرخپل ځای دي: مختلف مؤسسات، بنسټونه، اوګوندونه هره ورځ خپلو عادي کارونو ته دوام ورکوي. خلک د تل په شان خپل کارونه کوي او د هېواد د قانون څخه پيروي کوي.په حقيقت کې، ټولنه د يو انجن په څېر ده چې د ډيرو وړو او لويو برخو څخه رامنځته شوې او په يو ځانګړي نظم او همغږۍ سره کار کوي.

آيا له ځانه موکله پوښتلي دي چې ولې بېلابېلې چارې د تل لپاره د خپل معمول جريان له مخې تر سره کېږي او د ټولنې نظم په همدا شان دوام لري؟ د دغې پوښتنې ځواب به په راتلونکو لوستونوکې تر لاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- که په ټولنیز ژوند کې نظم او همغږي نه وي،څه به وشي؟

۲- د شاتو د مچیو او میږیو ژوند څه ډول دی؟

۳- د شاتو د مچیو او انسانانو د ژوند توپیر په څه شي کې دي؟

۵ ټولنیز نظم په کوچنۍ سطح څه معنا لري؟

۶- ټولنیز نظم په لویه کچه څه ګټه لري؟

۷- یوه بیلګه د نظم د کوچنۍ سطحې او یوه بیلګه د نظم د لوړې سطحې په اړه توضیح کړئ.

کورنۍ دنده

کوچنی نظم له لوی نظم سره پرتله کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنيز نظم لاملونه (۱)

خبرې اترې وکړئ

تېر لوست ته په پام سره، ستاسو په اند:

۱- آيا زمونږ ټولنيز ژوند نظم لري؟

۲- که چېرې ستاسو ځواب مثبت دی، څه شی ددې لامل ګرځي چې زمونږ ژوند دې نظم ولري؟

لکه څنګه چې په تير لوست کې مو لوستل، له دې سره سره چې انسان او د شاتو مچۍ دواړه ټولنيز ژوند لري، د شاتو مچۍ په فطري ډول ټولنيز ژوند ته دوام ورکوي.

له همدې امله ده چې د هغوی ژوند د زرګونو کلونو په لړکې بدلون نه مومي: د پېړيو، پېړيو راهيسې دوی په يوې طريقې سره خونه جوړوي، په يوه ډول د ګلونو ښېرازه (شيره) راټولوي او له هغه ځنې شات جوړوي، په يوه ډول تغذيه کوي، او په يو شان کارونه سره وېشي. ليکن د انسانانو ټولنيزې اړيکې د يولړ اصولو، قوانينو او معيارونو پربنسټ ولاړې دي چې په ټولنه کې منځ ته راځي او وګړي يو له بل سره هوډ او موافقه کوي چې دغه معيارونه مراعات کړي.

نو په دې توګه، د دغو قواعدو او قوانينو پېژندنه چې زمونږ د ټولنيز ژوند او اړيکو بنسټ جوړوي زمونږ لپاره ډېر ارزښت لري چې په دغه او راتلونکو لوستونو کې به يې وڅېړو.

ټولنيز ارزښتونه

مونږ د ډيرو څيزونو په اړه قضاوت او حکم کوو مثلاً: هغه ښه يابد، سم يا ناسم ګڼو. د بيلګې په توګه: يو بل ته درناوی کول، زده کړه، کارکول، رښتينولی او امانتداري ښه ګڼو. يو بل ته درناوی نه کول، بې احترامي، لټې، خيانت، چغلي او دروغ ويل بد ګڼو.

ټولنپوهان دغه ډول مفاهيم **ارزښت** بولي. ارزښتونه په ښلابښلو برخو کې زمونږ د قضاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو معیار گرځي. له ارزښتونو پرته خلک له یو بل سره د اړیکو په ټینګولو کې د ربړونو او ستونزو سره مخ کېږي، ځکه په دې حالت کې هغوی ګډ اخلاقي معیارونه او اصول نه لري چې د هغو په واسطه خپل او د نورو چلندونه وڅېړي. آن تردې چې که چېرې په یو ساده کار کې هم ګډ ارزښتونه شتون ونه لري، د پیوستون او توافق امکان نه لیدل کېږي، ځکه چې په دې صورت کې هغوی نه شي کولای پردې چې کومې چارې باید تر سره شي، کوم کړه وړه غیر عادلانه او کوم چلند ناسم دي، له یو بل سره همغږي شي او موافقه وکړي.

قواعد

که څه هم ارزښتونه زموږ په ژوندکې ډېر اهمیت لري، خو هغوی په هغه پیمانه ټولنیز دي چې نه شي کولای په کره او ژوره توګه زموږ چلندونه تنظیم کړي.

د مثال په ډول: **نوروته درناوی** د یو ارزښت په ټوګه، موږ ته صرف وایي چې یو بل ته درناوی کول ښه دی لیکن دانه وایي چې څرنګه باید یوبل ته درناوی وکړو. لکه څنګه چې پوهېږو په هره ټولنه کې په یوه ځانګړي ډول یو بل ته درناوی کوي. امکان لري چې یو ځانګړی چلند او یا عمل په یوه ټولنه کې درناوی او احترام او په بله ټولنه کې بې احترامي اوسپکاوی وګڼل شي.له دې امله، ارزشتونه باید په ځانګړو تګلارو واړول شي ترڅو موږ وکولی شوپه ورځنیو کړو وړو کې له هغو نه استفاده وکړو. انسانان له داسې وړتیاو نه برخمن دي چې کولای شي د دغو عامو ارزښتونو نه په ځانګړو ټولنیزو حالاتو کې دکړو وړو لپاره کړنلارې جوړې کړي. دغه کړنلارې د **قواعدو** په نامه یادیږي. څنګه چې پوهیږو د اسلام د سپېڅلي دین له ظهور نه وروسته مسلمانان له اسلامي ارزښتونو اوقواعدو څخه پیروي کوي چې بې شکه او په ټول باور سره د ټولنې دوګړو کړه وړه او چلند په دقیقه توګه تنظیموي او په هغې لارې چې دوی خدای(ج) ته ورنږدې کوي او د دنیا او آخرت نیکمرغۍ ته بې رسوي، لارښوونه کوي. موږ د همدې قواعدو پر بنسټ دغه ځواک او وړتیا تر لاسه کوو چې په ښوونځي، اداره او بېلابېلو حالاتو کې یو له بل سره اړیکې ټینګې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيز رول

قواعد يو له بل سره بې تړاوه او خواره واره ندي، بلکه هغوی په منظمو ډلو کې له يو بل سره اړيکې لري او له دې لارې زمونږ اړيکې آسانوي او د ټولنيز نظم په ټينګولو کې مرسته کوي. د بيلګې په توګه: په کورنۍ کې د يوې مور رول او مقام په پام کې و نيسئ. خلک په يوه ځانګړې ټولنه کې، له ميندو څخه هيله لري چې د خپلو او لادونو لپاره ځانګړي چارې ترسره کړي. هغه چارې چې مورږ يې له ميندو څخه هيله لرو. په حقيقت کې هغه قواعد دي کوم چې د مور **رول** پورې تړاو لري. يعنې هغه چارې سرته ورسوي چې له ميندو څخه يې هيله کېږي. هر شخص کو لی شي څورولونه ولري. د بيلګې په ډول: يو کس په کور کې **مور** او **ماندېنه**، په ښوونځي کې **ښوونکې** او په ګوند کې **معمولی غړې** وي. چې هر رول په خپل ځای کې سرته رسوي او که داسې ونه کړي هم هغه اوهم نور له ستونزو سره مخ کېږي.

په دې توګه، مورږ په هر موقعيت يا دريځ کې چې يو، د هغه په تناسب رول سرته رسوو، په منظم ډول چلند کوو، آن تردې چې نور خلک کولای شي زمونږ د احتمالي چلندونو اټکل وکړي. لنډه دا چې د يوې ټولنې وګړي د ګډو ارزښتونو او اصولو په منلو او په ښلابښلو ټولنيزو رولونوکې د هغو په پام کې لرلو او رعايت کولو سره له کړکيچ او نا خوالو څخه مخنيوی کوي او خپلو کړو وړه ته سمون ورکوي. ګډ ارزښتونه او اصول ددې لامل کېږي چې د يوې ټولنې وګړي له يو بل څخه دځانګړو چلندونو هيله ولري او همدارنګه له يو بل څخه انتظار ولري چې د يو لړ ځانګړو چلندونو نه ډډه وکړي. دغه امر د خلکو ترمنځ د اړيکو د نظم، همغږۍ او د سپلين په معنا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- ټولنیز ارزښتونه څه شی دي؟

۲- زموږ په ورځني ژوند کې ارزښتونه کوم رول لوبوي؟

۳- قواعد څه شی دي؟بیان یې کړئ.

۴- رول څه شی دی او تاسې په ټولنه کې کوم رول لو بوئ؟

کورنۍ دنده

خپل ښوونځی په نظر کې ونیسئ، له څو رولونو نه نوم واخلئ او هغه خلک چې دا رولونه لوبوی څوک دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنيز نظم لاملونه(۲)

خبرې اترې وکړئ

لاندې پوښتنې ولولئ او د هغو په اړه بحث وکړئ:

۱- آياټولنيز ارزښتونه او اصول د ټولنيز نظم د راوستلو لپاره کافي دي؟

۲- او که چېرې فکر کوئ چې دا کافي ندي، بيانو د کومو طريقو او لارو وړاندیز کوئ؟

د ډېر ورته والي سربيره چې د انساني ټولنې او د شاتو د مچيو د کندو ترمنځ شتون لري، انسان د شاتو مچي نده او انساني ټولنه د نظم او د سپلين د شتون سره چې لرې يې، په دوامداره توګه د اختلافاتو، شخړو او قانون ماتولو او له قانون څخه د سرغړونو د پېښو شاهده ده چې د بې نظمۍ لامل ګرځي. د نفوس ډېروالی، نا اندولي، بې عدالتي، توکم پالي او نور ټول کړکيچ را پارووونکي لاملونه چې بې نظمي را منځته کوي، د سرغړونو کچه لوړوي اوخلک بلوا ته هڅوي. دا له امکانه وتلې خبره ده چې يوه ورځپانه را خلاصه کړو او په هغې کې د وژنې، عصبانيت، نيوکې او له قانون څخه د سرغړونې يو رپوټ تر سترګونه شي. دغه خبره په دې معنا ده چې که څه هم ارزښتونه او اصول د ټولنيز نظم د رامنځته کېدو ډېر ضروري لاملونه دي، خو په يوازې ډول کافي نه دي. ټولنه د ارزښتونو او اصولو سربېره د نظم د رامنځته کولو او د ټولنيزې ادارې د راوستلو لپاره نورو وسايلو، او لارو چاروته اړتيا لري چې د هغو له ډلې يې ډېر ضروري لارې او وسايل له قانون، پوليسو، محکمې، او زندان څخه عبارت دي.

دغه لوست مو د دغو څلورواورګانونوڅېړنې ته ځانګړې کړې دی. د يو هېواد قانون د دولت، خلکو، مؤسسو او شرکتونو اړيکې له يوبل سره تنظيموي. که چېرته قانون موجود نه وي ګډوډۍ او بې نظمۍ به په ټولنه کې حاکمه شي چې په پايله کې به د هغه ټولنيز نظام د پرزيدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لامل وګرځي. ټولنه هغه وخت نظم او سمون مومي او د پرمختګ او ودې خواته لار پيدا کوي چې لومړی، ښه قانون ولري، دوهم دا چې دا قانون په ښه توګه عملي شي.

قانون

کله چې انساني ټولنه کوچنۍ وه، نو يوازې د ارزښتونو، قواعدو، آدابو او رواجونو په واسطه اداره کېده، ليکن کله چې نفوس ډېر شو نو دخلکو د اداره کولو لپاره دولتونه منځ ته راغلل او قانون ته اړتيا پيداشوه.

قانون يوه تګلاره ده چې د تقنينيه قوې يا پارلمان له خوا تصويب کېږي. د دغو قوانينو يوه برخه د خلکو پرګړنوځارکوي او خلک يې بايد مراعات کړي او په پام کې يې ونيسي، خو بله برخه يې د حکومت په کړنو پورې اړه لري او د حکومت د کړنو څارکوي. په دواړو حالاتوکې، قانون د وګړو او دولت کړنې تنظيموي او له يوې خوا د وګړوترمنځ اړيکې او له بلې خوا د وګړو او دولت ترمنځ اړيکې سره منظم او همغږې کوي. د نن ورځې هغه ټولنې چې ډېرې لويې او پيچلې دي، له قانون پرته د اداري وړنه دي.

په ډيرو هېوادونوکې اساسي قانون شتون لري. اساسی قانون ډېر جامع او ټولنيز خو اړين او ضروري مسايل څېړي او په آسانۍ سره د بدلون وړنه دي.

اساسي قانون د نورو قوانينو بنسټ او د مور حيثيت لري. نور قوانين د اساسي قانون پر بنسټ را منځته کېږي څرنګه چې و ليدل شول، اوسنۍ ټولنې پرته له قانون څخه نه اداره کيږي.

په اسلامي ټولنه کې اساسي قانون د اسلامي قانون د احکامو او په هېواد کې د رايج مذهب په رڼا کې ترتيب او جوړيږي که داسې نه وي نو هغه قانون د شريعت له نظره د اعتبار وړ نده او خپل ارزښت او مقام له لاسه ورکوي.

پوليس

په مدرنو او پر مختللو ټولنو کې قانون يو ضروري شی ګڼل کېږي، ليکن قانون، بايد اجرا يوي ملاتړ ولري. که چېرې د قانون اجراييوي او د پلي کېدو ضمانت شتون ونه لري، امکان لري چې څوک قانون ته پاملرنه ونه کړي او هغه عملي نه کړي. پوليس هغه څواک دی چې د نظم د را

(c) ketabton.com: The Digital Library

وستلو او خوندي کولو او د جرمونو د کنترول لپاره کار کوي. پوليس د هېواد کورنۍ نظم او امنيت د مجرمانو او بلوا ګرو له شره خوندي کوي.

محکمه

د قضاييه ځواک د پرمختللو ټولنو يو له دري اصلي او بنسټيزه ځواکونو څخه ګڼل کېږي.
قضاييه قوۀ د دې لپاره ده چې که چېرته د خلکو تر منځ يا د خلکو او دولت تر منځ حقوقي يا جنايي اختلافات او دعواوې منځ ته راشي قضاييه قوه يې د محکمو له لارې فيصله کوي.
محکمه داسې ځای دی هغه خلک چې په حقونو يې د وګړو، شرکتونو او يا د دولت له خوا تېری شوی وي هلته مراجعه کوي.
که چېرته محکمه خپله دنده په ښه توګه سرته ورسوي، لومړی به هغه خلک چې حق يې ضايع شوی دی خپل حق ته ورسېږي او دوهم هغه کسان چې کولای شي د نورو حقوق تر پښو لاندې کړي خو تر اوسه يې هغه کار نه وي کړی، له دې ويرې چې محمکې ته به کش شی او سزا به وويني، له تيري به لاس په سر شي.

زندان

زندان يو له هغو تاديبي او روزنيزو مرکزونو څخه دی چې ټولنه د مجرمينو له شره خلاصوي او پاکوي. له دې کبله زندان د ټولنيز کنترول له ډېرو مهمو وسايلو څخه شمېرل کېږي. هغه کسان چې د محکمې په حکم په سزا محکومېږي خپله د محکوميت دوره په زندان کې تيروي.
يو شمېر خلک له دې ويرې چې په زندان کې ونه لويږي په جرم او جنايت لاس نه پورې کوي څرنګه چې وليدل شول، په مدرنو دولتونو کې د ټولنيز نظم د ساتلو او جرم او جنايتونو د مخنيوي لپاره له قوي وسايلو نه استفاده کېږي. قانون، پوليس، محکمه او زندان په نوې نړۍ کې د ټولنيز نظم او سمون ډېر مهم وسايل ګڼل کېږي.
يو بله د نظم او دسپلين ساتلو وسيله د انسان په طبيعت او خټه کې نغښتې ده او هغه عبارت له ايمان لرلو، صداقت کولو، له خدای (جل جلاله) او د آخرت له سزا نه ويره ده. که چېرته يو انسان د ټينګ ايمان درلودونکي وي او په مرګ او د آخرت په ورځ ايمان او باور ولري او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې پوه شي چې د موږ د کړو وړو له ذرې ذرې نه پوښتنه کېږي، نو دا روحيه پخپله په انسان کې د ننه په پوليس اوړي او هغه اړ باسي چې له جرم او جنايت نه ډډه وکړي.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- کوم عاملونه په ټولنه کې د بې نظمۍ لامل کرځي؟

۲- له نو رو لاملونونه چې په ټولنه کې د بې نظمۍ سبب ګرځي نوم واخلئ؟

۳- هغه مهمې وسيلې چې په ټولنه کې د نظم راوستلو لپاره تر ټولو اخيستل کېږي کومې دي نوم يې وا خلئ.

۴- قانون څه شی دی او کومو چارو ته سمون ورکوي؟

۵- که په ټولنه کې قانون نه وي څه به وشي؟

۶- د قانون له پشتوانو څخه د يو نوم واخلئ.

۷- د مجرمينو زنداني کول د ټولنې لپاره څه ګټې لري؟

۸- آيا له يادکړی شويو دينې او حسي وسايلونه پرته معنوي وسايل هم شتون لري چې د ټولنې د نظم او دسپلين په ساتنه کې مرسته وکړي؟

کورنۍ دنده

د هېواد د اساسي او مدني قانون په باره کې يوه مقاله وليکئ چې له دومخونونه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيزې سرغړونې(۱)

خبرې اترې وکړئ

لاندې پوښتنې ولولئ او د هغو په اړه خبرې اترې وکړئ:

۱- آيا تاسو داسې څوک لېدلې چې له ټولنيزو اصولو څخه پيروي ونه کړي؟

۲- ولې دغه شان خلک، ټولنيز ارزښتونه او اصول تر پښو لاندې کوي؟

څرنګه چې په تيرو لوستونو کې مو ولوستل، په ټولنه کې ډير ارزښتونه او اصول شتون لري چې زموږ ټولنيزې اړيکې تنظيموي. ډېرې وګړې له دغو ارزښتونو او اصولو څخه پيروي کوي او له همدې امله نظم او آرامي په ټولنه باندې حاکم وي. له خلکو څخه هيله کېږي چې دغه ټول ارزښتونه او په ځانګړې توګه د ټولنې اړين او ضروري ارزښتونه رعايت کړي. ليکن که چېرې يو شمېر کم رنګه او غير ضروري ارزښتونه او اصول د يو شمېر خلکو لخوا ترپښو لاندې شي او له پامه وغورځول شي، نوروګړي هغه تر يوې کچې له پامه غورځوي او په پايله کې په ټولنيز نظم کې کومه ستونزه نه رامنځته کېږي. ليکن په ټولنه کې داسې وګړې هم تر سترګو کېږي چې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر اصول په څوڅو ځله تر پښو لاندې کوي، ټولنه او وګړي د دغسې خلکو په وړاندې غلې نه پاتې کېږي او هڅه کوي چې د ډول ډول وسیلو نه په ګټې اخیستلو سره د دوی د کړنو مخه ونیسي.دې ډول خلکوته ، سر غړوونکي او مجرمین او د دوی کړنو ته سرغړونه او جرم وایي هغه پوښتنه چې دلته مطرح کېږي داده چې ولې ځینې خلک سرغړونه کوي؟ د دې پوښتنې ځواب به په دې او راتلونکي لوست کې تر لاسه کړو. ډول ډول ټولنیز لاملونه شتون لري چې یو شمېر خلک د سرغړونو او بې لارۍ خواته هڅوي. د هغوله ډلې ځېنې ضروري لاملونه بې په لاندې ډول دي:

د نفوس ډېر والی

د وګړو شمېر له هغو لاملونو له ډلې څخه دی چې څرګندوي آیا په ټولنه کې نظم د ګوابښ لاندې راغلی او که نه. د ډېرو وګړو لرونکو ټولنو اداره کول د لږو وګړو لرونکو ټولنو په پرتله ډېر ستونزمن دی، ځکه هرڅومره چې د وګړو شمېر ډېریږي، د خلکو مخامخ اړیکې او یو بل سره ستونزمنې کېږي.

د نورو سره د لېدلو، خبرو کولو، او پېژندلو لپاره کافي وخت نه وي. کله چې د مخامخ اړیکو کچه راټیټه شي د متقابل عمل کیفیت یعني د هیجان، عاطفې او د متقابل باور د شدت کچه هم راټیټېږي. له دې کبله له نورو سره دپیلتوب او نږدې والي احساس کمیږي اودجرمي اعمالو کچه لوړیږي. له دې سربیره په ډېر نفوس کې د سر غړوونکو او جنایت کارو ګروپونو د تشکل امکانات موجود دي، ځکه چې هغوی له ټولنې نه واټن نیولی چې نوي او بیا پیوستون ته اړتیا لري.هغوی معمولاً وړوکې ټولګه جوړوي چې دغه ټولګه غالباً کوچنی فرهنګ او د خپل ژوند ځانګړي سبکونه را منځته کوي. د پاملرنې وړه چې په مطلقه توګه د نفوسو ډېروالی د سرغړونو لامل نه ګرځي خو د سرغړونو اصلي لامل د نفوسو د تربیت نشتوالی او جهل دی. بې له شکه هغه ډېر نفوس چې ښه تربیت شوی وي له هغه لږ نفوس څخه کوم چې ښه روزنه او تربیت و نه لري کېدای شي سرغړونې زیاتې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې د اسلام د ستر پيامبر ﷺ لارښوونه ده چې، د ډېر اولاد راوړل د اسلامي امت د زياتوالي او د قيامت په ورځ د پيامبر ﷺ د ويار باعث کرځي خو د احاديثو شارحين دا تشويق او هڅونه د اصلاح او تربيت سره تړاو ورکوي. يعنې که چېرته يو کس د دې وس ولري چې خپلواولادونو ته ښه روزنه ورکړي او د يو نيک عنصر په توګه يې ټولنې ته وړاندې کړي، ښه او که نه نو دا تشويق او ترغيب هغه چاته نده چې د اولادونو د ښې تربيې او روزنې وس نلري.

کډوالي

کډه کول او ميشته کيدل دوګړو په کړو وړو ډيره اغيزه لري.کله هم کډوالي داخلي وي.چې يو زيات شمېر خلک دځينو لاملو نو له کبله لکه جګړه، قحطي، وچکاليو يا د سيلاو له امله ديو هېواد دننه له يوې سيمې نه بلې سيمې ته کډه کوي.کله هم داکډوالۍ بهرنۍ وي، يعنې يوشمېرخلک د ځينولاملونو له کبله له يوه هېواد نه بل هېواد ته کډه کوي.کله چې پراخې کډوالۍ کيږي ارزښتونه او قواعد بدليږي او د ژوند طريقه او اړيکې تر يوه حده بدلون کوي. د دې بدلونونو اغيزه په ټولو خلکو يو ډول نه وي او ځينې خلک ډير تر اغيزې لاندې رائي. همدلته ده چې انحرافي کړه وړه او سر غړونې ډيريږي.

د نفوس تنوع

د ډېرو هېوادونو نفوس له بېلابېلو قومي، مذهبي او ژبنيو ګروپونو نه تشکيلېږي په داسې حال کې چې نفوس له مختلفو ګرو پونو نه تشکيل شي،د ډيرو انحرافي کړووړواحتمال وجود لري. په عامه توګه،که چيرته د نفوس شمېر دطبيعي امکاناتو سره تناسب ونه لري، مهاجرت او د نفوسو بې ځايه کيدل صورت نيسي.که نفوس د فرهنګ، قوم، ژبې اومذهب له لحاظه يو ډول وي، ډير امکان لري چې په داسې ټولنه کې جرمونه او سر غړونې کمې وي.خو له دې پرته، ممکنه ده چې دوګړو په کړو وړو اغيزه وکړي او يو شمېر کسان جرمونو اوسرغړونو ته ښکيل باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- مجرم(سر غړونکی)چا ته ویل کېږي؟

۲-کوم لاملونه انسان د سر غړونې خوا ته بیایي؟

۳- آیا د ډیر نفوس سمون د لږ نفوس له سمون نه ستونزمن دی؟ په دې اړه مو خپل آند څرګند کړئ.

۴- ډیر نفوس د ټولنې په نظم څه تاثیر اچوي؟

۵- د نفوس تنوع د ټولنې په نظم څه اغیزه لري؟

کورنی دنده

دمهاجرت په باره کې څو کرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيزې سرغړونې(۲)

ستاسې په آند:

۱- ولې ځينې خلک سر غړونې کوي؟

۲- څنګه کولی شو له سرغړو نو نه مخنيوی وکړو؟

په تير شوې لوست کې مو په سر غړو نو باند ې د نفوسو د اندازې او کيفيت د اغيز ې په اړه بحث وکړ. په دې لو ست کې به د سر غړونې او انحراف په اړو ند د ځينو نظرياتو په باره کې څرګندونې وکړو.

د فشار جوړونې نظريه

يو ټولنپوه ويلي دي چې د هرې ټولنې فرهنګ د خلکو لپاره هم موخې ټاکي او ور پېژني بې او هم دې موخو ته د رسيدو روا لارې او وسيلې ورښيي. سر غړونه په لويه کچه هغه وخت منځ ته راځي چې دې مو خو ته د لا س رسۍ روا لارې محدودې وي او دا محدود يتونه په هغو کسانو چې روا و سايلو ته لا س رسی نه لري ، فشار راولي،د بيلګې په تو ګه: په يوه ځانګړې ټولنه کې په مسلکي او اقتصادي بر ياوو باندې ټينګار کېږي، خو د دې برياوو د لاس ته راوړلو وسايل کم او محدود دي .په داسې ټولنه کې له يوه لوري خلک د فشار لاندې دي ترڅو دا اقتصادي بريالیتوبو نه لا س ته راوړي او له بلې خوا د دې بر يالیتو بونو لاس ته راوړل ممکن نه دي. دا ټولنپوه وايي چې ځينې خلک په داسې شرايطو کې په سر غړونې او جرم لاس پورې کوي. يعنې هغو مو خو ته د رسيدو لپاره چې په ټو لنه کې ټاکل شوې دي له نا روا وسايلو نه کار آخلي. د دې نظر په اساس، د دې لپاره چې جرم او سر غړونې کمې شي بايد اجتماعي موخو ته د رسيدو لپاره د روا او مشروعو وسايلو او لارو د پيدا کولو هڅه وشي.

د تضاد نظريه

ځينې ټولنپوهان په دې عقيده دي چې زياتره هغه کسان په سر غړونه لا س پورې کوي چې دډير زور او شتمنۍ خاوندان دي. هغوی په سترو سياسي او اقتصادي تير وتنو لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې کوي خو نيستمن ممکن له يوې هټۍ يا کور نه يو کم ارزښته شی غلا کړي. سره له دې چې د زورورو او نيستمنو خلکو د سر غړونو کچه د پرتلې وړ نده خو د زور خاوندان سر غړونه داسې تعريف کوي چې گوندي د فقيرو اونيستمنو خلکو جرم د سر غړونې په معنا ده او خپلې سر غړونې د دې تعريف له کړی نه بهربولي اوپه دې ډول شتمن خلک دهغو سر غړونو او جرمو نو له عواقبونه چې مرتکب کېږی په امان کې پاتې کيږي، مگر نيستمن خلک د ډير وړوکی جرم په تور کلونه کلونه د بندي خانې په کنج کې تيروي او د ټولنيز ژوند له اړخه هم بد نوم پرې تپل کېږي، د دې نظريې په اساس، سر غړونه د هرې طبقې له خوا سرته رسيږي مگر يوازې نيستمن او فقيران جزا وينې.

د ټاپه وهلو نظريه

داسې نظر هم مو جود دی چې کله يو ځوک په هر دليل چې وي يوه سر غړونه وکړي نو خلک هغه ته سر غړونکی وايي اوپه هغه د مجرم ټاپه وهي او کله چې په پرله پسې ډول مو هغه ته دغله، روږدي(معتاد) او يا د مجرم خطاب وکړنو هغه په دې باور کيږي چې په رښتيا هم دی سر غړونکی اومجرم دی او هڅه کوي چې د خپل په شان نور کسان هم پيدا کړي چې له هغو سره ناسته ولاړه ولري. نو کله چې د مجرمانو په ډله کې گډ شو نو د عادي خلکو سره يې فاصله زياتېږي او کيدای شي چې د يو حرفوي مجرم په توگه په لو يو جرمونولا س پورې کړي. دا نظريه موږ ته دا جوته کوي چې کله ځوک يوه سر غړونه کوي په هغه باندې د مجرم د ټاپې وهلو نه بايدډډه وشي.

دانتقال نظريه

يوه بله نظريه چې له پخوا نه په خلکو کې رواج درلود داسې ويل کيدل چې سر غړونه اکثراً زده کيږي. کله چې په ځانگړې توگه دکوچنيوالي په پراو کې، د مجرمينو او سر غړونکو سره ناسته ولاړه اومعاشرت کوي، د هغو قواعد زده کوي او سر غړونه نه يوازې بده او د غندنې وړ عمل نه بولي، بلکه هغه ممکن يو عادي او د ستاينې وړعمل وبولي. د دې لپاره چې له سرغړونې او جنايت نه توبه وشي بايد خپلو دوستانو او هغو کسانوته چې ورسره ناسته ولاړه لري بدلون ورکړي او د ځان لپاره صالح او له خدای ويريدونکي دوستان وټاکي ترڅو د هغوی د مرستې او لارښوونې په برکت له گناه کولونه په امان کې پاتې شي او دوی ته د ښو چارو د لټون او له بدو کارونونه د ډډې کولو انگيزه وگرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعدي دا نظريه په داسې ډول لنډه کړيده:

پسر نوح با بـــــــــدان بنشست　　خانـــدان نبو تش گم شد

سگ اصحاب کـــهف روزی چند　　پی مردم گرفت ومردم شد

ترجمه:

د نوح زوی کیناست له بـــدانو سره　　د پیامبرۍکو رنـــۍ يې شوه ورکه

دکـهف داصحابو سپی یو څو ورځې　　وگرځید کسانو سره ،کس شو،ځکه

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- سرغړونکی چاته ویل کېږي؟

۲- د فشار جوړونې نظريه څه شی ده؟

۳- د تضاد نظريه څه شی ده او په ټولنه کې دسر غړونو په را پیداکیدو څه اغیزه لري ؟

۴- - د انتقال نظريه څه شی ده، توضیح ورکړئ؟

۵- د ټاپه وهلو د نظريې په باره کې څوکرښې وليکئ.

۶- له سرغړونې نه د پاکي مـهمه طريقه توضیح کړئ.

کورنۍ دنده

د دې په اړه چې (څنګه کولی شو له جرم او سرغړونې نه مخنيوي وکړو) يو مقاله چې له دو مخونونه کمه نه وي وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څېړکي لنډيز

• په کوچنۍ کچه د ټولنيز نظم څخه موخه او منظور دادی چې د ټولنې وګړي په آسانۍ سره د يوبل په کړو وړو پوهېږي او درک کوي يې، له دې امله هغوی کولای شي چې د يوبل له کړووړو نه وړاند وينه وکړي او په آسانۍ د يوبل سره اړيکې را منځته کړي.

• ارزښتونه په مختلفو برخو کې زمور د قضاوت کولو معيار ګرځي. د ارزښتونو پرته خلک د يوبل سره د اړيکو په ټينګولو کښې د ربړونو او ستونزو سره مخ کېږي.

•خلک په يوه ټولنه کې د ګډو ارزښتونو او قواعدو په منلو سره او په مختلفو ټولنيزو چارو اورولونو کې دهغو په رعايت کولو سره،له تاو تريخوالي او ګډوډۍ نه مخنيوی کوي او خپلو کړو وړو ته نظم اوسمون ورکوي.

• قانون يوه تګلاره ده چې د تقنينيه قوې يا پارلمان له خوا تصويب کېږي. د دغو قوانينو يوه برخه د خلکو پرکړنوځارکوي او خلک يې بايد مراعات کړي او په پام کې يې ونيسي، ولې بله برخه يې د حکومت په کړنو پورې اړه لري او د حکومت د کړنو ځارکوي.

•د وګړو شمېر د هغو لاملونو له ډلې څخه دی چې څرګندوي آيا په ټولنه کې نظم د ګوابښ لاندې راغلی او که نه. د ډېرو وګړو لرونکو ټولنو اداره کول د لږو وګړو لرونکو ټولنو په پرتله ډېر ستونزمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم څپرکي

په دې څپرکي کې دا لاندې لو ستونه لولئ:

- ټولنيز بدلونونه څه شی دي؟
- د ټولنيز بدلونونو لاملونه(۱)
- د ټولنيز بدلونونو لاملونه(۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکی موخې

تمه کیږي چې زده کوونکي ددې څپرکي په پای کې وکولای شي چې:

- دبدلونونو له معنا او مفهوم سره آشنایي پیدا کړي،
- د ټولنیزو بدلونونو مصداقونه وپېژني،
- د ټولنیزو بدلونونو لا ملونه تشخیص کړای شي،
- په خپل ژوند کې د بدلونونو په ښیګڼو او زیانونو پوه شي،
- د ټولنیزو بدلونونو دکنترو لولو لاره وپیژني،
- د خپل ژوند له مثبت بدلون سره علاقمند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيز بدلونونه څه شی دي؟

فکر وکړئ او ځواب ورکړئ

سره له دې چې په ټولنه کې ډير شيان زياته موده ثابت پاتې کيږي او بدلون نه کوي، خو ځينې شيان بدلون کوي، ستاسې په آند:

۱- ټولنيز بد لونونه څه شی دي؟

۲- څو ډوله بدلونونه چې تاسې په خپله هغه ليدلې وي، بيان کړئ.

د چټک ټولنيز بدلون پيل

په پخوا زمانو کې انسا نانو نسبتاً يکنواخته ژونددرلود او ډيرو نسلونو تقريباً په يو ډول ژوند کاوه، يو ډول جامې يې اغو ستلې،يو ډول خواړه يې خوړله او يو ډول دود او دستور يې درلود. هغه بدلو نونه چې دانسانانو دژوند په مختلفو برخوکې په ستر گو کې ډيرکرار او حتا دليدلو وړ نه وو. خو د اوه لسمې ميلادي پيړۍ نه را په دې خوا چې صنعت او تکنالوژۍ وده وکړه د بشر د ژوند ټولو برخو په ډيره چټکتيا سره بدلون پيل کړ، څرنگه چې نن ورځ د ژوند په هره برخه کې په ډير سرعت سره بدلونونه راځي. دا مهال هر نسل په ځانگړي توگه او د پخواني نسل نه په توپير ژوند کوي. هر وگړی د ژوند په پراوکې بايد ډيرې وړتياوې زده کړي ترڅو وکولی شي په خپل شغل او ټولنيز مقام کې پاتې شي. مور نشو کولی په ځوانۍ کې په هغې پوهې او وړتيا چې په کوچنيوالي کې مو زده کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، خپلو موخو ته ورسيږو. بلکه بايد په دوامداره توګه خپلې پوهې او د وړتياو زده کړې ته دوام ورکړو او خپل ځان د نويو شرايطو لپاره آماده کړو.

د ټولنيز بدلون اهميت او ګټې

د ټولنيزو بدلونونو د پيژندلو مهمه ګټه داده چې موږ د ټولنې د يو غړي په توګه د خپل ماحول له ټولنيزو جريانونو نه خبريږو او همدارنګه په دې بدلونونوکې په خپل رول او په ژوند کې د هغو له اغيزې نه خبريږو.

کوم ډول بدلونونوته (ټولنيز بدلونونه) وايي؟

ټولنپوهان وايي بدلونونو ته هغه وخت ټولنيز ويلی شوچې په ټولنې پورې تړاو ولري نه په فرد پورې. کله هم ديو يا څوکسانو په ژوندکې بدلون راځي خو په ټوله ټولنه اغيزه نه کوي په دې صورت کې کوم ټولنيز بدلون نه راځي. مګر ځينې وختونه بدلون داسې بڼه ځانته غوره کوي چې په ډيري خلکو باندې اغيزه کوي، په دې صورت کې دې بدلون ته ټولنيز بدلون وېل کېږي. ټولنيز بدلونونه کيدای شي په مختلفو سياسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي برخوکې منځ ته راشي. د بيلګې په توګه: په هېواد کې سياسي انقلاب او د سياسي نظام بدلون کيدای شي يو سياسي بدلون وګڼل شي. خو بايد په ياد ولرو ،کله چې کودتا وشي او فرد حاکم شي، بې له دې چې نظام بدلون وکړي، سياسي بدلون نه راځي. په يوه هېواد کې سياسی بد لون هغه وخت منځ ته راځي چې په سياسي نظام کې يې بدلون راشي.

سياسي بدلون کيدای شي له انقلاب پرته او د رفورم اواصلاحاتو له لارې هم منځ ته راشي. که د اقتصاد په برخه کې د پراختيا پروګرام په هېواد کې طرح او پلې شي او دځوکلونو په موده کې داقتصاد برخه د پاملرنې وړ وده اوپرمختيا وکړي، کولای شو ووايو چې په دې هيواد کې داقتصاد په برخه کې بدلون راغلی دی. د بيلګې په توګه: د خلکو د لويې پرګنې اقتصادي ژوند بدلون ومومي او خلک د نيستئ له حالت څخه ووځي او په دې برخوکې ښکاره ښه والی څرګندشي.

يو بل ټکي چې لازمه ده د بدلون په اړه مطرح شی دادی چې بدلونونه کيدای شي مثبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او يا منفي وي. ځينې بدلونو نه څرنګه چې د اقتصاد په برخه کې مومثال ورکړ، کیدای شي مثبت بدلون وګڼل شی. ځکه چې دهغه بدلون پایله ټولو خلکو ته ګټوره او مطلوبه ده. مګر ځینې بدلونونه کیدای شي خلکو ته زیان رسونکې پایلې ولري. د بېلګې په توګه: په هېواد کې یرغل ګرو پر ضد د جهاد نه وروسته کورنۍ جګړې چې په عامه توګه د هېواد په ضرر او بې ګټې وې د خلکو په ژوند کې د ډېرو بدلونونو لامل وګرځیدې.

د ټولنیز بدلون پدیدې او نښې نښانې

ټولنیز بدلونونه د ژوند په مختلفو برخو کې منځ ته راځي. نن ورځ په دې نړۍ چې موږ په هغې کې ژوند کوو ټولنیزې سیالۍ بدلون موندلی دی. زیاتره نړیوالې ژبې په سیمه ییزو ژبو اوښتې دي او سیمه ییزو ژبو په نړیوالو ژبو بدلون موندلی دی. اغېزه کول او اغېزمن کیدلو په بې ساري ډول چټکتیا موندلې ده. د خلکو رول د خپل برخلیک په ټاکلو کې پراختیا موندلې، د تعلیم او زده کړې وسایل ډېر شوي دي، چې تقریباً ټولو خلکو هغو ته لاس رسی موندلی دی.

په هر صورت ټولنیز بدلونونه که چېرته کنترول او هدایت شي کیدای شي د ټولنې د خوزښت ماشین د پرمختګ او ودې خواته مخه وکړي، څرنګه چې د بدلون نه شتون به د ټولنې د سکون او د هغې د ځای په ځای پاتې کیدو او دریدو په معنا وي. نو هیله کېږي چې د ټولنیزو بدلونونو عوامل چې په راتلونکو لوستونو کې یې مطرح کوو، وکولای شو په هوښیارۍ سره دا ټولنیز بدلونونه کنترول او هدایت کړو او له هغه نه د هېواد او ټولنې په ګټه استفاده وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- ټولنیزو بدلونونو کوم وخت چټکتیا پیدا کړه؟

۲- بدلون تعریف کړئ؟

۳- ټولنیز بدلون څه شی دی؟ له بیلګې سره یې واضح کړئ.

۴- د بدلونو ډولونه واضح کړئ.

۵- مثبت بدلونونه او منفي بدلونه واضح کړئ.

۶- د ټولنیز بدلون د موضوع په باره کې توضیحات ورکړئ.

۷- سیاسي برخه کې بدلون څرنګه پیښیږي؟

۸- د ټولنې د بدلون نښې نښانې او پدیدې بیان کړئ.

کورنی دنده

د اقتصادي بدلون د مثبتو پایلو په اړه څلور کرښې ولیکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنيزو بدلونونو لاملونه (۱)

فکر وکړئ او ځواب ورکړئ

د تېرشوی لوست مطالبوته په پاملرنې سره لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړي.

۱- ټولنيزارزښتونه په بدلونونو کې څه رول لري؟

۲- آيا د ټولنيزو بدلونونو کوم بل عامل هم پېژنئ؟ توضيح ورکړئ.

د ټولنيزبدلون اصطلاح په عمومي توګه د انساني ټولنې د تاريخي بدلونونو لپاره په کار وړل کېږي او هغه عبارت دي له هغو بدلونونو څخه چې د تاريخ په اوږدوکې د يو ملت او ټولنې د ژوند په قواعدو کې منځ ته راځي.

دا بدلونونه له زرګونو داخلي او بهرنيو عواملو او له هغه ځواک نه چې د ګروپ د داخلي او بهرنيو شرايطو زېږنده دي منځ ته راځي.

د ويلوور ده چې د بدلون کچه په پرمخ تللیو، ابتدايي، زراعتي او صنعتي ټولنو کې توپير لري. دا په دې معنا ده چې په وروسته پاتې ټولنو کې بدلونونه په آرامۍ سره راځي په داسې حال کې چې په پرمخ تللیو ټولنو کې د بدلونونو اندازه په بدلون ورکوونکو پورې تړاو لري چې په يو ځانګړې وخت کې له هغه نه کار اخيستل کېږي. په لنډه توګه ويلی شو چې ټولنيز بدلون هغه بدلون ته وايي چې په ټولنيز جوړښت کې د ننه د ټولنې په حجم يا په ځانګړو ټولنيزو بنسټونو کې او د دې بنسټونو له اړيکو نه منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيز بدلونونه د مختلفوعواملو تر اغېزې لاندې منځ ته رائي. د دې لاملونو پېژندنه او د دې لاملونو په واسطه د بدلونونو د راوستلو په طريقې باندې پوهېدل کيدای شي مور ته چې د ټولنې غړي يوه ډېر ګټوروي. په دې لوست کې د ټولنيزو بدلونونو مهم لاملونه تربحث لاندې نيسو.

ارزښتونه (عقيدې)

د ټولنيزبدلون له مهمو لاملونو څخه يو هم ارزښتونه، قواعد او فرهنګي عقيدې دي. ټولپوهان په دې عقيده دي چې ځواکمن عقايد هغه دي چې په دين پورې تړاو لري ځرنګه چې پوهېږو د اسلام مقدس دين د هغو خلکو په ژوند کې چې د اسلام مقدس دين يې ومانه ډېر ستر بدلونونونه راوستل. د اسلام مبين دين د ځمکې د کرې لويې برخې ته بدلون ورکړ. هغه خلک چې د اسلام مقدس دين ته يې مخه وکړه، خپل ظالمانه او دوديز نظامونه خوشې کړل او د اسلام آزادۍ بخښوونکي دين ته ور داخل شول او ديوې پېړۍ په موده کې اسلامي ځليدونکی تمدن په نړۍ کې را ښکاره شو.

هر بدلون چې په اسلامي نړۍ کې منځ ته راغلی د اسلامي آزادۍ بخښونکو باورونو او عقيدو تر اغيزې لاندې وه. بله بيلګه، په مسحيت کې د نوې مذهب په توګه د پروتستانتيزم را پيدا کيدل وو. يو ستر ټولنپوه د خپلو اوږدو څېړنو په پايله کې دا ښکاره کړه چې پروتستانتيزم چې د مسحيت د مذهبونو له جملې نه يو لوی مذهب دی خلک دې ته مجبور کړل چې سخت کارونه وکړي او پانګه واچوي چې په پايله کې دا چارې د سرمايدارۍ او صنعتي کيدو لامل وګرځيدې. نو له دې کبله دلته هم ليدل کېږي چې عقيدې او باورونه د بشر په ژوند کې د لويو بدلونونو لامل ګرځيدلې دي.

يو شمېر څېړونکي په دې باور دي چې د لوديځ رنسانس او بيارغونه د اسلامي تعليماتو په اغېزه منځ ته راغلی دی، چې د صليبي جنګونو او په آند لس کې د اسلامي حکومت په واسطه هلته انتقال شوه. حتا يو هسپانوی پوه ويلي دي چې که د شهيدانو د ميدان جګړه چې د فرانسې په جنوب کې د عبدالرحمن غافقي په رهبری پېښه شوه، بريالی شوي وای لوديځې ټولنې به دې تمدن ته شپږ پېړۍ مخکې لاس رسی پيدا کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکنالوژي

د ټولنيز بدلون له مهمو سرچينو نه يوه بې هم تکنالوژي ده. تکنالوژي د چاپيريال د کنترول او اداري، د زده کړې له طريقې او پېژندنې نه عبارت ده. کله چې انسانان د منابعود راټولولو او لاس ته راوړلو نويو طريقو، د توکو او خدمتونو د توليد طريقو او د هغو د وېش په طريقو لاس رسی پيدا کړ ټولو ټولنيزو اړيکو بدلون پيدا کړ. په دې اړه يوې ساده بېلګې ته پاملرنه وکړئ: کله چې په کرنيزو محصولاتو کې د کليو خلک له يوې او غويونه استفاده کوي، هغوی ډېر زحمت باسي خو لږ محصول لاس ته راوړی او له دې کبله بايد ډېرکار وکړي او لږ محصول لاس ته راوړي. خو که چېرته تراکتور او نور زراعتي ماشين آلات کليو ته لاړشي نو لږ کارکوونکي به کفايت وکړي چې د دې ماشين آلاتو په کار اچولو سره ډېر محصول لاس ته راوړي، په دې صورت کې به د دې کليو د ژوند په ټولو برخو کې بدلون راشي. چې په پايله کې کيدای شي ډېر وګړي د دې وخت پيدا کړي چې په نورو چارو او له دې جملې نه په زده کړه بوخت شي. په دې ډول نوښت او د نوې تکنالوژۍ پراختيا، په انساني ټولنو کې د بنسټيزو بدلونونو لامل ګرځي.

ټولنيزه نا انډولي

د ټولنيز بدلون د اصلي سرچينو له جملې نه نا انډولي او د طبقاتي، جنسي او قومي ګروپونو پيدا کيدل دي. د پيسو په وېش کې ، په قدرت، حيثيت، روغتيا، تحصيلاتو او نورو ارزښتنا کو سرچينوکې نا انډولي، د هغو کسانو چې ددې سرچينو درلودونکي دي او هغه کسان چې د دې سرچينو نه برخمن نه دي يو ژور تضاد پيدا کوي. دا تضاد د ضرورت له مخې په تاوتريخوالي نه بدليږي. مګر په ټولنيزو اړيکو فشار اچوي چې بالاخره په بدلون تبديليږي. هغه کسان چې دا سرچينې په اختيار کې لري هڅه کوي ترڅو د قدرت په ټينګولو، هغو ته په ښه ډلابندۍ پلمو په مشروعيت ورکولو او همدارنګه په زور او جبر سره دا سرچينې وساتي. زياتره کوم خلک چې دا سرچينې په اختيار کې نه لري، د شتمنيو د خاوندانو په وړاندې کوم کارنه شي کولی خو په شکايتونو لاس پورې کوي او ځينې وختونه شورش کوي په داسې حال کې، که چې محروميتونه ډېرشي او خلک وکولی شي، په خپله سازماندهی لاس پورې کړي، ډېر ستر بدلونونه به په ټولنه کې منځ ته راشي. کله چې نا انډولي داسې ځانګړي او کوچني فرهنګونه منځ ته راوړي چې د فرهنګي يووالي، د دومداره ټولنيز

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړښت او د مالي سرچينو درلودونکي وي د سياسي فشارونو په مرسته کيدای شي بدلونونه رامنځ ته کړي. په دې توګه فرهنګي او ټولنيزه نا انډولي د بخار د ديګي په شان ده چې د هغه سرپوښ د يوې مودې لپاره کولی شو ټينګ وترو، مګر فشار کرار کرار زياتوالی (تراکم) پيداکوي او د بدلون لامل ګرځي. په داسې مواردوکې بدلون زياتره دېر ګړندی او تاوتريخوالي سره منځ ته راځي.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- د بدلون لاملونه کوم دي؟ نوم يې واخلئ.

۲- ټولنيز ارزښتونه په ټولنيز بدلون کې څه رول لري؟

۳- ټولنيزې عقيدې په ټولنيز بدلون کې کوم رول لري؟

۴- ټولنيزبدلونونه په لوديځ کې څرنګه د اسلامي فرهنګ په اغېزه منځ ته راغلل.

۵-کوچنی او اساسي بدلونونه څنګه توپير کولی شو؟

۶- تکنالوژي په ټولنيز بدلون کې کوم رول لوبوي.

کورنۍ دنده

د نا انډولۍ او په ټولنيز بدلون کې د هغه د رول په باره کې څوکرښې وليکئ او بيا يې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنيزو بدلونونو لاملونه (۲)

فکر وکړئ او ځواب ووايئ

يوه کورنۍ په نظر کې ونيسئ چې په هغې کې څلور کسان ژوند کوي. وروسته له څو کلونونه د هغوی شمېر لسو کسانو ته رسيږي. اوس نو ووايئ چې:

۱- د هغوی په اړيکو کې کوم بدلونونه راغلي دي؟

۲- په اقتصادي برخه کې کوم بدلونونه کيدای شي منځ ته راغلي وي؟

د ټولنيزو بدلونونو مهم لاملونه مو په تير شوې لوست کې ولوستل او ځينې به يې په دې لوست کې ولولئ.

د نفوسو اندازه

د نفوسو جريانونه او وده کولی شي د ټولنيزو بدلونونو په راوستلو کې د فشار لامل وګرځي. کله چې د نفوسو شمېر زياد شي د اقتصادي توليداتو نوې بڼې ته خوړو، استوګن ځای، پوښاک او په ښارکې د استوګنې په برخه کې ضرورت پيدا کوي. او د نا آرامو پرګنو د قانوني کيدو او کنترول لپاره نوويو حقوقي او سياسي سازمانونو ته اړتيا پيدا کوي. د ځوان نسل د ټولنيز کيدو لپاره د نوويو ښوونځيو جوړولو او د ښوونې د نوي سيستم ايجادولو ته اړتيا پيدا کېږي. او بدلون ته اړتيا همدارنګه دوام پيدا کوي.

له دې امله د نفوسو وده د اساسي ځواب او بدلون غوښتونکي ده. همدارنګه کيدای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نفوس چې د کمښت په حالت کې وي هم د بدلونونو د منځ ته راتللو لامل وګرځي. مګر په ډېر کم ګړندی توب سره، کله چې نفوس کم شي. نو په اقتصادي برخه کې به د کارګرانو کمښت او په ښوونځیو کې به د کوچنیانو کمښت راشي.

نفوس د عمر د جوړښت له کبله هم کیدای شي د بدلونونو د راوستلو لامل شي. هغه ټولنه چې ځوان نسل یې د لوړ عمر د نسل په پرتله د کمیدو په حالت کې وي ستونزې رامنځته کوي. ځرنګه چې د امریکا په متحده ایالاتو او اروپایي هېوادوکې دا ستونزه وجود لري. دا ستونزې د لوړعمر خلکو د ملاتړ لپاره د کافي مالیاتي عوایدو پیدا کول دي. همدارنګه هغه ټولنې چې د ځوان نسل له زیاتوالي سره مخامخ دي، ځرنګه چې د لاتیني امریکا په هېوادو او آسیایي و افریقایي هېوادوکې لیدل کېږي، ستونزې منځ ته راوړي. دا ستونزې ځوان نسل ته چې دودې په حالت کې دی د ښوونځیو او مدرسو جوړولو، د وظیفو پیدا کولو او د ټولنیزو خدمتونو تأمینول دي. چې زیاتره د سیاسي رهبرانو مشروعیت کمزوري کوي او په پایله کې په سیاسي بنسټونو او مؤسساتو کې بدلون راځي.

مهاجرت او د نفو سو ځای پرځای کیدل

دیوې ټولنې د ننه یا بهر یا د هغې مهمو سیموته (لکه پلازمینه) مهاجرت کول هم د ټولنې په جوړښت ډېره اغېزه لري. بهر ته مهاجرت هم پر ټولنه ډېره اغیزه کوي، خصوصاً که چېرته د هېواد د اتباعو یوه ځانګړې طبقه ټولنه پریږدي او یا که تحصیل کړی او مسلکي ځواک مهاجرت وکړي چې هغه ته مغزي تښتیدنه هم وایي، په هغه صورت کې اقتصاد، حکومت او مکتبونه به تر بدې اغېزې لاندې راشي. همدارنګه که مزدور کاران مهاجرت وکړي نو د کار په ځواک کې به کمښت راشي، خو که چېرته نیستمن کډه وکړي اکثراً د هغوی مهاجرت په حکومت، ښوونځیو او ټولو نهادونو د فشار د کموالي لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مهاجرت د اغیزو په باره کې په څه پوهیږئ؟

له یوې سیمې نه بلې سیمې ته مهاجرت کول هم په مهاجرانو او هم په هغو ټولنیزو سازمانونو او ګروپونو چې دا مهاجران په هغو کې د ننه ځای پر ځای کېږي. مثبتې او منفي اغیزې منځ ته راوړي. په تاریخي لحاظ د مهاجرت له معنا ډکه پایله د فرهنګ رواجیدل (اشاعه) ده. د فرهنګ یووالي هغه وخت منځ ته راځي چې مهاجرین له اصلي اوسیدونکو سره واده وکړي چې د دې اړیکو په پایله کې نوې نسلونه منځ ته راځي.

بیالوژیکي ګډوالی تل د مهاجرت د اغیزې پایله ګڼل کېږي.

که چېرته د مهاجروقومونو د زور له امله وي او که په سوله ییز ډول وي او یا که د استعمار غوښتونکو عملیاتو تر پوښتنې لاندې وي، مهاجرت په لویو ټولنو کې د ښارونو د پراختیا او د ښاري ژوند د پراختیا لامل ګرځي. لنډه دا چې داسې ټولنه نشته چې بدلون ونه کړي او یا د بدلون لامل و نه لري. حتا ډېرې غیر فعاله ټولنې هم له بدلون سره مخامخ کېږي، چې له یوه حالت نه بل حالت ته تغییر کوي. ډېر مهم بدلونونه عبارت دي له: د نفوسو لاملونه، د تکنالوژۍ جوړښت، اقتصادي بنسټ، ارزښتونه،نظریات او تضادونه.

کیدای شي د بدلونونو لامل اشخاص لکه: رهبران او د روښانه فکر خاوندان هم وي. د بدلونونو په وړاندې تل ځینې مقاومتونه موجودوي چې معمولاً د مقاومتونو له جملې نه ډېر شدید مقاومت له سازمانونو نه سرچینه اخلي، د ودیز کړه وړه د هغو د دوام سبب ګرځي او په پایله کې ډېرې چارې بدلون کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- نفوس څه ته وايي او په ټولنيزو مسايلو کې څه رول لري؟
۲- د څو ډوله مهاجرت نه نوم واخلئ.
۳- مهاجرت څه شی دی او د هغه علت څه شی دی؟
۴- په ټولنه باندې د مهاجرت د اغيزې په باره توضيحات ورکړئ.
۵- مذهبي عقايد د ټولنې په بدلون کې څه رول لري؟

کورنۍ دنده

د ټولنيزو بدلونونو د څو لاملونو لست جوړ کړئ او بيايې په ټولګي کې ولولئ.

د دريم څپرکي لنډيز

• د ټولنيز بدلون اصطلاح په عمومي توګه د بشري ټولنو د ټولو تاريخي بدلونونو په اړوند استعماليږي. او عبارت له هغو بدلونونو څخه دي چې د تاريخ په اوږدوکې د يو ملت د ټولنيز ژوند په اصولو کې منځ ته راځي.

عمومي بدلون، هغه بدلون ده چې په ټولو ټولنيزو نظامونو کې منځ ته راځي او په بل عبارت که چېرته په ټول ټولنيز نظام کې ټول شيان بدل شي او د هغه هويت بدلون وکړي. په هغه حالت کې عمومي بدلون راځي.

• ټولنيز بدلون د هغو لاملونو مجموعه ده چې په متقابله توګه او په يوه وخت کې عمل کوي. او يو په بل اغېزه کوي.

• په هر ځای کې چې په فرهنګ کې نوې عناصر را ښکاره شي او همدارنګه د فرهنګ محتوا او جوړښت بدل کړي، نو فرهنګي بدلون منځ ته راځي.

• عقايد د نړۍ او د ټولنې د ماهيت په باره کې مهمو مفاهيمو ته ويل کېږي چې خلک د هغو سمبالې د واقعيت په توګه قبلوي.

•د مهاجرت اصطلاح له خپل وطن او دولت نه تګ بل دولت ته ويل کېږي او يا په بل عبارت د خلکو حرکت له يوې جغرافيايي سيمې نه بلې جغرافيايي سيمې ته مهاجرت ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څيرکی

ټولنيزې نابرابری

په دې څپرکي کې لاندې درسونه زده کوو:

- ټولنيزه نابرابري او د هغوی نښې څه شی دي؟
- طبقاتي نابرابري،
- جنسيتي نابرابري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

هیله من یو چې ګرانو زده کوونکو به د دې څپرکي ترلوستلو وروسته:

- د ټولنیزو نابرابریو مفهومونه او مصداقونه وپېژني،
- د ټولنیزو نابرابریو له ډولونو او لاملونو سره آشنا شي،
- طبقاتي نابرابري او جنسیتي نابرابري توپېر کړای شي،
- د ټولنیزو نابرابریو د کمیدو او را ټیټیدو له لارو سره آشنا شي،
- د ټولنیز عدالت له مفهوم سره آشنا شي،
- له ټولنیزعدالت سره مینه پیدا کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنیزې نابرابرۍ څه شی د ي؟

فکر وکړئ او ځواب ووایئ

کوم خلک چې په یوه ټولنه کې ژوند کوي، د با ارزښته ټولنیزو منابعو لکه: شتمني، ځواک (قدرت) او ټولنیزموقف څخه په مساوي ډول برخمن نه دي. ستاسې له نظره :

۱- ولې ټول خلک له شتمنۍ او قدرت څخه په مساوي توګه برخمن نه دي؟

۲- آیا دغه توپیر او نابرابري عادلانه دی او که نه ؟ خپل دلایل وړاندې کړئ.

په بشري ټولنو کې وګړي او ډلې په ټولنیزه توګه د شتمنۍ، مال، سیاسي قدرت او منزلت او ټولنیز درناوي څخه په مساوي ډول برخمن نه وې او نه دي.

ځینې ګروپونه د اقتصادي، سیاسي، قومي، مذهبي او نورو تړاونو له کبله د زیاتو امتیازونو څخه برخمن وي او ځینې نور یې د ډېرو لومړنیو (ابتدایي) امتیازونو څخه هم بې برخې وي. د اساسي سرچینو (منابعو) د نابرابرۍ له مخې ځینې وختونه د وګړو تر منځ طبیعي توپیروي او که ټولنیز او اقتصادي غیر عادلانه جوړښت. د بېلګې په توګه: د اساسي یا بنسټیزو سرچینو نابرابرۍ په دې خاطر وي چې که که ځینې وګړي د نورو په نسبت د زیات فکري او فزیکي (جسمي) ځواکمنۍ څخه برخمن وي. لکه دا چې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسه پر دوو ټوټو ورته ځمکو باندې کار کوي. خو له دوی نه یوکس د خپل ډېر زیار او کار له امله د بل کس په پرتله څو برابره حاصل تر لاسه کوي. که څه هم په کوچنی ټولنه کې یو ډول نه یو ډول نابرابري شته خو که چېرې دغه نابرابري د ټولنیزو توپیرونو په خاطر وي ، نو د اسلام سپېڅلي دین او انساني سلیم عقل هغه نه مني. د ټولنیزو توپیرونو ځینې ډېرې مهمې نښې او آثار په لاندې ډول دي:

د ټولنیزواټن کچه (اندازه)

ټولنیزه فاصله یا واټن د طبقو، نژادي او جنسیتي ګروپونو ترمنځ په مختلفو ټولنو کې سره توپیر لري. په ځینو کې دغه درز زیات نه وي چې په پایله کې د دوی ترمنځ توپیر هم لږوي خو کله دغه درز زیات وي. له ټولنیز درز څخه زمونږ موخه د شتمنۍ، قدرت او ټولنیز منزلت څخه د مختلفو ګروپونو برخمن کیدل دي. په ځینو ټولنو کې یو کم شمېر خلک د شتمنۍ او قدرت تر ټولو زیاتې سرچینې په واک کې لري خو د خلکو ستړې پرګنې د دغو سرچینو د ډېرې کمې برخې څخه برخمنې دي چې د دوی لومړنۍ اړتیاوې هم نشی پوره کولی.

د امتیاز لرونکو ګروپونو او عادي خلکو د ژوند کولو وضعیت او فرهنګ ته په پام لرنې سره وینو چې د دوی تر منځ زیات توپیر موجود دی په دې صورت کې د خلکو تر منځ ټولنیز درز زیات وي. لیکن که چېرې د خلکو تر منځ توپیر زیات نه وي په دې صورت کې ټولنیزدرز هم کم وي.

ټولنیز خوزښت

ټولنیز خوزښت په ټولنیزو مقامونو کې د افرادو ځای پرځای کیدوته ویل کېږي. د بېلګې په ټوګه: هغه څوک چې په یوه بزګره کورنۍ کې پیدا شوی وي، که چېرې وکړای شي چې د خپل شخصي کوښښ او مناسبو زده کړو پواسطه دولتي لوړو پستونو ته ځان ورسوي، ویلی شو چې هغه ټولنه د ټولنیز خوزښت څخه برخمنه ده. خو که چېرې ټولنه هغه چاته چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوارو کورنیو کې پیدا کیږي لوړو پوړونو ته د رسیدو اجازه ورنه کړي، په دې ډول ټولنو کې ټولنیز خوځښت وجود نه لري د ټولنیزخوځښت کچه هم کیدای شي چې کمه او یا زیاته وي.

هغه ټولنې چې ټولنیز خوځښت پکې زیات وي، نابرابري پکې لږه او یا دا چې د هغې د لږیدو پرخوا دروميِ. ځکه چې وګړو ته د دې اجازه ورکوي چې په ټولنیزو سلسله مراتبو کې ځانونه ځای په ځای کړي او خپلو ځانونو ته ارتقا ورکړي. لیکن هغه ټرلې ټولنې چې خپلو خلکو ته اجازه نه ورکوي چې په اداري سلسله مراتبو کې ځای په ځای شي، نابرابري پکې ډېره زیاته وي. له دې کبله ټولنیزخوځښت د ټولنیزې نابرابرۍ له مهمو نښو څخه دی. نابرابري په زیاتو وختونو کې په ټولنه کې ستر بدلونونه او یا انقلابونه را منځته کوي لیکن زیاتره د هغه چا ترمنځه چې د ځانګړو سرچینو څخه برخمن وي او هغه څوک چې له دغو سرچینو څخه بې برخې وي، محدودي شخړې او جګړې رامنځته کوي. زمورِ شاوخوا زیاتره په زړه پورې او جالبې پېښې لکه کارګري مظاهرې، د نښځو لپاره د مساوي حقوقو غوښتنه، نژادي او قومي تضادونه، له نابرابریو څخه را منځته کیږي. هغه ټولنیز خوځښتونه چې د تغییراتو غوښتونکي دي لکه: کارګري جنبشونه، د مریي توب د لغوه کولو خوځښتونه، د نښځو لپاره د رایې د حق ورکولو خوځښتونه او د مدني حقوقو خوځښت، ټول د نابرابرۍ په وړاندې د ځواب په پایله کې رامنځته شوې دي او پراختیایي موندلې ده. د دې خوځښتونو څخه را ولاړې شوي اکثره شخړې او تاوتریخوالی د تغییر او ټولنیزکنترول لاملونه شمېرل کیږي.

د اسلام مقدس دین له څوارلس سوه کاله را په دې خوا د یو ستر او له نښیګنو ډک دین په توګه عمل کړی دی او ټولنیزې نا اندولې یې له ریښې ورکې کړې دي. په اسلام کې د ټولنې ټول غړي د مساوي او عادلانه حقونو نه برخمن دي. د بیلګې په توګه: د مریي

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزادول د دین له شعایرو څخه شمېرل کېږي چې د ځینو ګناهونو له هغې جملې نه د قصدي روژې خوړلو کفاره ګڼل شوې ده. همدارنګه په اسلام کې د عرب اوعجم ترمنځ هیڅ توپیر نشته. حتا کوم کسان چې په سیاسي بڼه یې د اسلامي دولت په پولو کې ژوند کاوه خو په خپله مسلمانان نه وه، د یو تبعه په توګه له ټولو حقونو نه برخمن وه.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....

د پوښتنې

۱- نابرابري تعریف کړئ.

۲- آیا انسانان کولی شي داسې ټولنه جوړه کړي چې په هغې کې هیڅ ډول نابرابري وجود ونه لري.

۳- څه ډول کولی شو چې د نابرابرۍ کچه راټیټه کړو؟

۴- که چېرې په ټولنه کې نابرابري چټکه وده وکړي، پایله به یې څه وي؟

۵- اسلام له نابرابریو سره څرنګه مبارزه کوي؟

کورنۍ دنده

خپل شاخواته وګورئ چې کومې نابرابرۍ ستاسې په شاوخوا کې وجود لري، هغه فهرست کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبقاتي نابرابري

فکر وکړئ او ځواب ووایئ

تېر درس ته په پاملرنې سره:

۱- په خپل چاپېریال کې څه ډول نابرابري پېژنئ؟

۲- ستاسې په نظر دغه نابرابرۍ د منلو وړ دي که نه؟ خپل دلایل وړاندې کړئ.

د نابرابریو له ډولونو څخه یوه بې په ځانګړې توګه په او سنیو ټولنو کې له طبقاتي ټولنې څخه را پورته شوي نابرابري ده. که څه هم د ټولنیزې طبقې لپاره مختلف تعریفونه شته خو د دې سره سره ویلی شو چې طبقه عبارت ده له هغو ډلو څخه چې د مادي سرچینو او امکاناتو (شتمني، قدرت او منزلت) څخه د ګټې په توپیر سره د ګټې پورته کولو په جریان کې تشکل مومي نو له همدې کبله د هغوی په فرهنګ او د ژوند په سبک او طریقه کې توپیر را منځته کېږي. له یو ډول سرچینو (شتمنۍ، قدرت او منزلت) څخه برخمن دي. یو له بله سره ټولنیزې اړیکې ټینګوي او له هغه چا سره چې له متفاوتو سرچینو څخه برخمن دي لږ اړیکې ټینګوي. دغه اړیکې د راشه درشه، مېلمستیاوو څخه نیولي تر واده، د وینې اړیکې او خپلوۍ، ټول په برکي نیسي. په دې ترتیب سره د خلکو هر هغه ډله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرچپنو یوه ځانګړې برخه پخپل واک کې لري، د ژوندانه او فرهنګ داسې یو ځانګړې ډول او طریقه لري چې د هغه چا سره چې له دوی څخه پورته او یا له دوی څخه ښکته ژوند لري، ډېر توپیرلري. له دې کبله هغه ګروپ خلک چې د نسبتاً مساوي منابعو، فرهنګ او د ژوندانه له ورته سبک اوطریقې څخه برخمن دي، یوه طبقه بلل کېږي او لکه څرنګه چې توضیح شوه، د طبقاتو موجودیت د یوې ټولنې د خلکو ترمنځ د یو ډول ټولنیزې نابرابرۍ په معنا دی.طبقې په اوسنیو ټولنو کې یو لړ ځانګړنې لري او د هغه اهمیت له مخې چې لري یې، ځینې یې لږ څه توضیح کوو:

طبقاتي واټن

دا مهال په پرمخ تللو ټولنو کې سره له دې چې طبقاتي فاصله موجوده ده، خو طبقاتي پوله (مرز) پوره ښکاره نه ده. په بله ژبه د ټولنې د مختلفو طبقو تر منځ کرښه په واضح ډول نده ایستل شوي او زیات شمېر خلک شته چې پوره معلوم نه دي چې پورته طبقې پورې اړه لري او که په ښکته طبقې پورې. په داسې حال کې چې په عنعنوي ټولنو کې دغه پوله پوره څرګنده ده.

د شتمنۍ غونډیدنه

که څه هم په اوسنیو مدرنو ټولنو کې لږترلږه ټول خلک د ضروري امکاناتو د یوې کمې اندازې څخه برخمن دي لیکن شتمنۍ ډېره په غیر عادلانه توګه وېشل شوې ده.

د بېلګې په توګه: د هغې مطالعې پر اساس چې په ۲۰۰۷ زیږدیز کال کې د امریکا په متحده ایالتونو کې تر سره شوي ده څرګندوي چې د هغه هېواد (۳۹٪) شتمني یوازې په سلو کې د یوه فیصد اشخاصو په لاس کې ده او نوره پاتې شتمني د هېواد د ټولو خلکو په لاس کې ده.

لکه څرنګه چې پوهېږو، کله چې شتمنۍ په دې ډول په غیر عادلانه توګه وېشل شوي وي، ټولنیز قدرت او منزلت چې د شتمنۍ سره ډېره نږدې اړیکه لري، به هم په دې ډول په غیر عادلانه توګه وېشل شوی وي.

لکه څرنګه چې ولیدل شوه، په طبقاتي ټولنو کې سره د دې چې د ټولنې غوڅ اکثریت خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د ژوندانه د امکاناتو ټیټه اندازه تامینیږي، خو شتمني، قدرت او منزلت په بشپړه توګه په غیر عادلانه ډول وېشل کیږي.

هر اړخیز زېښناک (استثمار)

د هغه دلیلونو پر اساس چې د پرمخ تللو طبقاتي ټولنو د ځانګړتیاوو په هکله مو وړاندې کړل، په دې ټولنو کې یو ډول آرام او نرم لیکن ډېر ژور او پراخ زېښناک موجود دی. یو محدود لږکی (اقلیت) چې د ټولنې ارزښتناکه سرچینې او امکانات یې په لاس کې دي، د ټولنې ډېرکې(اکثریت) له اقتصادي، سیاسي او فرهنګي لحاظه زېښنې. د نابرابری د همېشني نظام جوړول په څو لحاظه د مسلط ګروپ په ګټه دي. لومړی دا چې هغه امتیازونه چې دغه ګروپ د مخه درلودل، خوندي پاتې کیږي. په دې ترتیب سره حکومتي نظام او قانون لکه څومره چې دزور ورو او شتمنو تر زیات فشار او نفوذ لاندې وي په همغه اندازه به په ټولنه کې د نورو په وړاندې د دوی د امتیازونو د خوندیتوب په لاره کې مرسته وکړي.

دویم، دغه مسلط ګروپ د ښوونې او روزنې د دندو او استوګنې لپاره ښه او مساعد ځای تر لاسه کوي.

دریم، غوره او وتلو کسانوته دا امکان برابروي چې له هغو کسانو څخه چې په ټیټ مقام کې دي د کارګر اجیر او مصرف کوونکي تر نامه لاندې کار واخلي او په دې ترتیب سره خپل ژوند هوسا کړي او شتمني زیاته کړي.

ځینې پوهان په دې آند دي چې د نابرابری نظام د زور ورو ممتاز او لوړ مقام خوندي کوي. د دوی د رقابت نه ډک نفوذ زیاتوي او دا امکان ورته برابروي هغه کسان چې ښکته ژوند لري، وزېښنې.

اسلام کله چې د لومړي ځل لپاره د سعودي عربستان په شبه جزیره کې راوځلید، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبقاتي نظام پې د بطلان کړنه راکش کړه. بادار او مربي ته پې په يوه ليکه کې ځای ورکړ، د ابوبکر، ابوعبيده، مصعب بن عميره (رض) چې د ټولنې له شتمنو او باعزته اعرابو څخه وه او همدارنګه د بلال، ياسر، سيمه، عمار او صهيب (رض) چې له نيستمنی او فقيري طبقي او د مريانو له جملې څخه وه ترمنځه پې برابري راوسته. اسلام له همغه پيل څخه د ښه والي او لوړوالي معيار تقوا، علم او اخلاقي فضيلتونه اعلان کړل چې په دې دول د نا انډولۍ ټول مظاهر پې جاهليت او له انسانيت نه لرې وګڼل.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- طبقه تعريف کړئ؟

۲- طبقاتي درز څه شی دی؟ توضيح پې کړئ.

۳- زېښناک څه شی دی؟ کومه طبقه زېښنل کېږي؟ توضيح پې کړئ.

۴- اسلام له ټولنيزې نابرابري او طبقاتي نابرابري سره څرنګه مبارزه کوي؟

۵- د لوړوالی او فضيلت معيار په اسلام کې څه شی ده؟

کورنۍ دنده

يو څو موارد چې په ټولنه کې د نابرابرۍ لامل ګرځي، فهرست کړي او په ټولګي کې پې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنسي نابرابري

فکر وکړئ او ځواب ووایئ

تېر درس ته په پاملرنې سره:

لکه څرنګه چې پوهېږو، د بشري ټولنې یوه نیمایي نارینه او بله نیمایي یې ښځې دي. ستاسې په نظر:

۱- ښځې او نارینه په مساوي توګه له امتیازاتو څخه برخمن دي؟

۲- که چېرې د جنسیتي نابرابرۍ کوم ډول موجودوي، هغه توضیح کړئ.

جنسیت څه شی دی؟

جنسیت یعنې د ښځو د حقونو نه دفاع او ملاتړ او په ټولنیز، اقتصادي، او فرهنګي برخو کې نارینه او ښځې تر منځه په برابرۍ باور او د ښځو د تحقیر، توهین او پر هغوی د ظلم او ستم په وړاندې مبارزه ده. د جنسیتي مسایلو څخه موخه په اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزه ساحه کې د ښځې او نارینه لپاره د هغوی د برابرو حقونو تر لاسه کولو او ورسپارلو څخه عبارت ده ترڅو جنسیتي نابرابري له منځه ولاړه شي. جنسیت د ټولنیزې نړۍ په هره سطحه کې ترستر ګو کېږي. جنسیت د خپل ځان او نورو سره د اړیکو د ټینګولو په باره کې له فکر کولو څخه عبارت دی. د کار د ډول او کورنۍ ژوند په ټاکلو کې زیات تاثیر لري. جنسیت د ټولنیزو سلسله مراتبو ټاکونکی دی ځکه چې په زیاتره ټولنو کې د ټولنیزو سرچینو مهمه برخه پخپل واک کې لري. د جنسیت ټولنیزه معنا نارینه توب او ښځې توب ته د اشارې او ښودلو په معنا ده.

خدای تعالی (جل جلاله) انسان د نر او ښځې له دوه جنسونو څخه پیدا کړي دي. د خدای تعالی د حکمتونو د نمونو څخه یوه بې داده چې په ټولو ټولنو کې د نر او ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر کابو سره مساوي ده. ښځو او نارينه وو د تاريخ په اوږدو کې يو ډول د کار جنسيتي وېش درلوده ښځې په زياته اندازه د کور په چارو او د خپلو اولادو نو په روزنه بوختې وې او نارينه د کور نه د باندې کارونو او د خوراک په برابرولو باندې بوخت وو. د کور کارونه که څه هم سخت او ستونزمن وو خو څرګند عايد يا ګټه وټه بې نه درلوده. په دې دليل د ښځو ټولنيزمقام ورځ په ورځ را ټيټيده د دوی ځواکمني او وړتيا د نارينه وو په پرتله لږه په پام کې نيول کيدله او له همدې کبله وه چې په اکثره ټولنو کې مېړه او با صلاحيته کارونه د نارينه وو په لاس کې وو. نن ورځ د نړۍ په ټولو فرهنګونو کې ښځې له نارينه وو سره متناسب مقام نه لري او معمولا ښځې هغه چارې سرته رسوي چې لږه ګټه او کم اعتبار لري.

ځينې خلک داسې فکر کوي چې په مېړو او لوړو پستونو کې د کارکولو څخه د ښځو بې برخې کولو دليل دادی چې ښځې د فکري او جنسي پلوه لږه ځواکمني لري او همدغه کارونه کوم چې په عنعنوي او دوديز ډول ښځو ته سپارل شوي دي د هغوی لپاره مناسب کارونه دي واقعيت دادی چې له حياتي پلوه ښځې او نارينه لږ توپير سره لري او دغه توپير د دې لامل نه ګرځي چې مور ښځو ته د هېڅ ډول ترقی او پرمختګ وخت ورنه کړو او بې برخې يې کړو. د اسلام سپيڅلی دين هم ښځې د نارينه وو په څېر انسان بولي. اسلام د ښځې او نر تر منځ تفاوت په رسميت پېژني ليکن د ښځې يا د نارينه په حق کې بې عدالتي په هېڅ وجه نه مني. د اسلام تاريخ د ژوند په مختلفو برخو کې د ښځو د برخې اخيستنې شاهد دی. ښځو د پيامبر ﷺ په فتوحاتو او جګړو کې برخه اخيستی ده. په روايا تو کې راغلی دي چې حضرت فاطمه الزهرا او يو شمېر نورو مسلمانو ښځو د احد، حنين او په داسې نورو جګړو کې ګډون کړي دی. او همدارنګه په فرهنګي او علمي مسايلو کې بې ډېر ګډون درلود. د ښځو له منځه داسې کسان هم راڅرګند شوه چې په علمي مسايلو کې پوهان شول. د بيلګې په توګه: حضرت عايشه (رض) د احدايثو له سترو راويانو څخه شمېرل کېږي او پخپله د فقهي د مسايلو په باره کې ځانګړی ليد او نظريات لري. دلته د جنسيتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نابرابری په منفي پایلو او عواقبو باندې بحث کوو.که څه هم جنسیتي نابرابري د افرادو او ټولنو لپاره زیاتې منفي پایلې لري خو مور بې دلته د ځینو مهمو په طرحه باندې بسینه کوو:

د ټولنې وروسته پاتې والی

دیوه ملت پراختیا او ملي پر مختګ د ښځو له حضوراو فعاله ګډون نه پرته دا پروسه له مشکل سره مخامخ کیږي.څرنګه چې لیدل کیږي دافغانستان زیاتره ښځې بې سواده دي اوکله چې د ټولنې نیمایي برخه د ښځو په خاطر د اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو مهمو کارونو د اجراکولو څخه بې برخې شي، ټولنه د خپل انساني نیمایي ځواک د کار، فعالیت او نوښت څخه بې برخې کیږي او په پایله کې د ودې او پرمختګ څخه وروسته پاتې کیږي.

ټولنیزکړکیچ یا لانجه

پخوا به ښځې او نارینه دواړه د ټولنیز دود تابع وو او هر چا به هغه کار کاوه چې د ټولنې عرف او فرهنګ به ورته ټاکلي وو خو نن سبا د ښوونې او روزنې، اړیکو او رسنیو د پراختیا او پرمختګ له سببه وضعیت بلکل توپیر پیدا کړی دی. اوس ټول پوهیږي چې ښځې هم کولی شي چې د نارینه وو په څیر لوړې زده کړې او د ډیرې ګټې او عاید لرونکې دندې ولري او د خپل ظرفیت د لوړید او لوړو ټولنیزو مقامونو ته د رسیدو په لاره کې د ښه عقلي ځواک او وړتیا نه برخمن دي. له دې کبله دوی نور نشي کولی چې دغه د توپیر او تبعیض نه ډک وضعیت چې ښځو ته د دوی د ظرفیت د لوړتیا او ګټواوکارونو د سرته رسولو مخه نیسي، وزغمي او د هغه له منځه وړلو لپاره ټولې هلې ځلې پکار واچوي.

له دې کبله له هر څه نه دمخه باید د ښځو پرمختیا ته چې د نسلونو بنسټ ایښودونکي او د پرمختګ جوړونکي دي ډیره پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- نابرابري څه شی ده؟

۲- جنسیت څه شی ده؟

۳- آیا په نړۍ کې د ښځو او نارینه وو په شمېر کې توپیر موجود دی؟

۴- ولې ښځې د نارینه وو په پرتله د نړۍ په زیاتره سیمو کې د اساسي او ټولنیزو ګټو څخه بې برخې دي؟

۵- ښځې په اسلام کې کوم مقام لري؟

۶- د ښځې او نارینه تر منځ د نابرابرۍ او تبعیض لامل څه شی دی؟

۷- جنسیتي نابرابري څه پایلې لري؟ بیان یې کړئ.

کورنۍ دنده

د افغانستان د ښځو د ټولنیز وضعیت په باره کې یو څو کرښې ولیکئ.

د څلورم څېرکي لنډیز

• ټو لنیزې نا برابرۍ په عامه معنا د وګړو او د مقامونو تر منځ هغو تو پیرونو ته وایي چې په ټولنیز ډول پېژندل شوي او خلکو هغه اشغال کړۍ وي.

• هغه ګرو پونه چې مادي منابعو ته ددوی دلاس رسۍ د توپیر له امله تشکل مومي، طبقه ویل کېږي. نو له همدې امله د دوی د ژوند په تګلارې، طریقې او فرهنګ کې توپیر لیدل کېږي.

• د اسلام مقدس دین قومي او نژادي توپیرونه د هیڅ ډول امتیاز منبع نه بولي بلکه دانسانانو لوړتیا یواځې په تقوا کې بولي.

• له جنسیتي مسایلو نه ښځو او نارینه ته دژوند په سیاسي، ټولنیز او فرهنګي برخو کې د هغو د حقه حقو قو ورسپارل دي. تر څو جنسیتي نا برابري له منځه لاړه شي.

کله چې د ټولنې نیمایي برخه د ښځو په خاطرد اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو مهمو کارونو د اجراکولو څخه بې برخې شي، ټولنه د خپل انساني نیمایي ځواک د کار، فعالیت او نوښت څخه بې برخې کېږي او په پایله کې د ودې او پرمختګ څخه وروسته پاتې کېږي. له دې کبله له هر څه نه د مخه باید د ښځو پر مختیا ته چې دنسلونو بنسټ ایښودونکي او د پرمختګ جوړونکي دي ډیره پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

زمور ټولنيزې ستونزې

په دی څپرکي کې لاندې لوستونه لولو:

- بې سوادي،
- غريبي او بيکاري،
- د اوسيدلوځای(کور)،
- روغتيا،
- مخدره توکي يا مواد،
- نا امني او ترهگري،
- نا چاودل شوي مواد،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

هیله کیږي چې زده کوونکي ددې څپرکي له لوستلو وروسته:

•د سواد ګټې و پیژني او په ټولنه کې د بې سوادۍ دله منځه وړلو سره علاقه پیداکړي،

• د غریبی او بېکاری منفي پایلې و پیژني اوزیار او کوشش ته وهڅیږي،

• د بې کورۍ له ستو نزې سره آشناشي او له هغې څخه د وتلولار وپیژني،

• له هغو ستونزو سره چې له مخدره توکو، نا چاودلو موادو، نا امنیو اود روغتیایي خدمتونو له کمواليِ څخه را منځته کیږي آشنا شي او له هغو سره د مقابلی کولو په لاروچارو وپوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمور ټولنيز مشکلات: بې سوادي

فکر وکړئ او ځواب ووايئ

په نوي نړۍ کې ژوند ښوونې او روزنې ته اړتيالري.څرنګه چې قرآن کريم فرمايي:

(اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّکَ الَّذِی خَلَقَ* خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ*اقْرَأْ وَرَبُّکَ الْأَکْرَمُ الذی عَلَمَ بِلَ قلمِ* عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ*)

هغه چاچې ښوونه نه ده کړې بيسواده بلل کيږي دې واقعيت ته په پاملرنه:

۱- که څوک سواد ونه لري د کومو ستونزو سره مخ کيږي؟

۲- هغه ټولنه چې زيات وګړی بې بې سواده دي، له کومو مشکلاتو سره مخ کيږي؟

انسانانو له ډير پخوا نه د ځمکې په سر ژوند وکړ خو په لوستلو او ليکلو نه پوهيدل. په هغه وخت کې دانسانانو ژوند ډيرساده او ابتدايي و. په هغه وخت کې د تيرو نسلونو تجربې په عملي او شفاهي ډول له يوه نسل نه بل نسل ته ليږدول کيدې. د نوې ټولنې غړو د خپل د ضرورت وړفنون او مهارتونه د ژوند د ورځنيو چارو په ترڅ کې زده کړې. په هغه وخت کې د زده کړې هېڅ ډول ځانګړي پروګرام وجودنه درلود. بې سوادي تل د هېوادونو د ودې او پرمختيا د مخنيوي لامل ګرځي. له دې کبله ويلی شو چې بې سوادي يو تباه کوونکی مرض او د بشر د لوړی درجه دشمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توګه د بشري ټولنې په ځانګړې توګه د دريمې نړۍ او وروسته پاتې هېوادو دپر مختګ، ودې اوپراختيا په لاره کې لوی خنډ شمېرل کيږي چې دهغه بشپړله منځه وړل ساده کار نه دی بلکه دا يو پېچلی جريان دی چې ملي اونړيوالې مرستې ته اړتيا لري.ځرنګه چې ليدل کيږي دبيسوادۍدله منځه وړلو لپاره په نړيواله کچه د هېوادونو او نړيوالو سازمانونو له خوا اقدامات شوي دي.

نن ورځ په ټوله نړۍ کې خلک با سوا ده دي آند تردې چې راندې اوکاڼه هم با سواده دي. له بده مرغه چې زمور په ګران هېواد کې له لسو ميلونو نه زيات خلک بې سواده دي او همداوس پنځه ميلونه کوچنيان د ښوونځي له تلونه بې برخې دي. هغه ستونزې چې له دې برخې څخه زمور هېواد ورسره مخامخ دی، ډيرې زياتې دي چې ډير مهم يې عبارت دي له:

نېستي، ناپوهي، اقتصادي او ټولنيز وروسته پاتې والی، رورېديدل جرم او جنايت ته مخه کول. کوم هېواد چې د سواد له نعمت څخه بې برخې وي، تل ځواکمنو هېوادو ته اړ وي. نو ځکه نيستمنو هېوادوته دا لازمه ده تر څو علم او سواد ته پاملرنه وکړي او د ښوونځيو پراختيا ته توجه ولري. ځکه چې ښوونځي د نيستۍ او وروسته پاتې والې نه د مخنيوي اصلي خوځښت ګڼل کيږي. اوس مهال په نړۍ کې د علم او تکنالوژي په پرمختګ سره او د نړۍ د هېوادونو د زراعتي کيدو او صنعتي کيدو په پايله کې دا هېوادونه په کروندواو د سپکو او درندو صنايعو په فابريکو کې انساني ځواک، باسواده او ماهرو کارګرانو ته اړتيا لري. له دې امله هېوادونه هاند او هڅه کوي ترڅو د ټولنې وګړي يې باسواده شي ځکه بې سواده وګړی نه شي کولای په ښه توګه په کروندو او فابريکو کې د زراعت او صنعت د پراختيا او پرمختګ لپاره ګټور کار وکړی.

سواد د هر ډول زده کړې لپاره بنسټيزه وسيله ده. سواد په فرهنګي، سياسي، اقتصادي او ټولنيزو فعاليتونو کې د ګډون يو ضروري عنصر بلل کيږي. دا جوته ده چې يو بې سواد وګړي نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای خپلې ټولنیزې ستونزې په ښه توګه حل کړي او د خپل ځان او کورنۍ لپاره د ښو خدمتونو لامل شي. کوم وګړې چې د پوره سواد درلودونکي دي، خپله ټولنه او د ژوند ماحول درک کوي خپل او د ټولنې د ستونزو د حل لارې پیدا کوي.

په داسې حال کې چې سواد د لوستلو او لیکلو وړتیا بولي خو واقعیت دا دی چې سواد د لوستلو، لیکلو او په لیکل شویو متنونو پوهیدل دی. او د پوهیدو او درک معنا دا ده چې وګړي باید ښه ژبنۍ وړتیا او په پوره اندازه عمومي پوهه ولري. دا وړتیا یوازې د ښوونځي له لوستلو څخه لاس ته راځي.

نېستي او غریبي د بېسوادي د پایلو په لومړي سرکې ځای لري.په معاصرو ټولنو کې کارونه اوشغلونه سواد او مسلکي وړتیاوته اړتیا لري. له دې امله، که څوک سواد ونه لري نشي کولی چې مناسب کار او ښه عاید ولري. کله چې د یوې ټولنې زیاتره غړي بېسواده اوکم سواده وي، د دې خلکوله نیستۍ نه سر بیره، ټوله ټولنه په نیستۍ اخته کېږي، ځرنګه چې د دولت د عوایدو مهمه برخه زکات، عشر، مالیات، په شخصي کانونو کې، خمس، وقف او واجبي او نفلي صدقات جوړوي.کله چې خلک غریب اونیستمن وي، دولت به هم د بیت المال دعوایدو او د مالیاتو له کمښت سره مخامخ شي او په پایله کې د ټولنې عام امکانات او اړتیاوې لکه: لاره ،روغتون، ښوونځي، د کونډو، یتیمانو، کنډو، رندو، معیوبینو، علماو نفقه او د هغو کسانو چې د خلکو په خدمت کې بوخت دي لکه: د دولت د مامورینو، قضاتو، ښوونکو او ډاکترانو مصارف چې اسلامي شریعت په بیت المال کې مقرر کړې دي له کمښت سره مخامخ شي. همدارنګه په داسې هېواد کې فابریکې او تولیدات نه شي کولی وده وکړي. په پایله کې به هېواد په سخته نیستۍ او غریبۍ اخته شي.

رورډیدل: بېسواده ټولنه زیاتره دنیستۍ او جهل له امله په مخدره موادو دروړدیدو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلا په لومه کې ښکیلیږي. بې سوادي او جهل له نېستۍ او په پای کې له رورېدیدو سره ډیرې نږدې اړیکې لري، له دې کبله د ښوونې او روزنې په برخه کې پانګونه او د ښوونې اوروزنې کیفیت ته پاملرنه به ډیره ګټوره پایله ولري. د یادونې وړ ده چې د بې سوادي زیان رسوونکې پایلې ډېرې زیاتې او پراخې دي، په هغو برخو چې مور پرې بحث وکړ یوازې د دې ستونزو څو نمونې یې وې.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- بې سوادي څه شی ده؟

۲- سواد تعریف کړئ، زمور په هېواد کې څو فیصده ښځې او نارینه په لو ستلو او لیکلو نه پوهېږي؟

۳- د بې سوادۍ له امله په هېواد کې کومې ستونزې رامنځته کېږي؟

۴- بې سوادي او رورېدیدل څه اړیکې سره لري؟

کورنۍ دنده

یو بې سواده سړی له یوه با سواده سړي سره مقایسه کړئ او په دې باره کې په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمور ټولنيزې ستونځې: نېستي او غريبي

فکر وکړئ او ځواب ووايئ

لاندې پوښتنې په غور ولولئ او ځواب ورته ووايئ.

۱- ولې انسان غريبيږي؟

۲- د انسان په ژوندانه کې غريبي څه اغيزه لري؟

۳- څنګه کولی شو له غريبۍ او نېستۍ نه مخنيوی وکړو؟

انسان خوراک، کالیو او د اوسيدلو ځای يا کور او نورو وسايلو ته اړتيالري. لوی خدای (جل جلاله) د انسانانو لپاره ټول د اړيتا وړ شيان د ځمکې په سر او طبيعت کې پيدا کړي دي او انسان ته يې د فکر او د کار کولو توان ورکړی دی چې ترڅو هغه راوباسي او د خپلې اړتيا سره سم له هغو نه ګټه واخلي. که چيرته شرايط داسې برابر شي چې انسان وکولی شي له خپلې پوهې او استعداد نه کار واخلي او طبيعي سرچينې د خپلو اړتياوو د پوره کولو په موخه راوباسي او ترې ګټه واخلي، د غريبۍ او نېستۍ سره به مخامخ نه شي او که چيرته انسان کهالي او تنبلي وکړي او يا طبيعي او ټولنيزخنډونه يې مخې ته راشي او و نه کړای شي چې د لوی خدای ﷻ له دغه نعمتونو څخه ګټه واخلي نو له غريبي او فقر سره به مخامخ شي.

نيستي څه شی ده؟

نېستي يا غريبي د هغو شيانو نه درلودل دي چې انسان هغو ته اړتيالري. غريبي هغه لوی مصيبت دی چې د تاريخ په اوږدوکې يې بشرځور ولی او ځوروی يې. څرنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: نږدې ده چې غريبي په کفر واوړي. له دې کبله دې پوښتنې ته چې (ولې انسان نېستمن کېږي؟) ځواب ورکول ډير مهم دی.

ځرنګه چې د دې پوښتنې د ځواب د پيداکولو نه وروسته به په دې پوه شو چې مور ولي غريب ياستو چې لاملونه يې ډير زيات دی خوځيرنه يې په دې ځای کې ممکنه نده، مګر په عام ډول کولی شو هغه په دريو عمومي برخو ووېشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فردي لاملونه

فردي لاملونه چې بيلابېل ډولونه لري، هغو لاملونو ته ويل کيږي چې ريښه يې پخپله په فرد کې ده د مثال په توګه: د فقر او غريبي ډير مهم فردي لاملونه عبارت دي له:

۱- تنبلي کول او له کار او هڅې نه ډډه کول.

۲ - بې سوادي او ناپوهي چې د انسان په ژوند کې د کمزورۍ سبب ګرځي.

۳- د مهمو او ګټورو کارونو د سرته رسولو د مهارتونو نه درلودل.

۴- د بدن د غړو معلوليت چې د کارکولو مانع ګرځي. په هغه صورت کې چې انسان په پورتنيو څولاملونو اخته وي پخپل فردي ژوندانه کې له ستونزو سره مخامخ کيږي او غريب اونېستمن کيږي.

طبعي لاملونه

خدای (جل جلاله) زموږ د اړتياوړ مواد په طبيعت کې پيدا کړي دي، د امواد په طبيعت کې يو ډول نه وی وېشل شوي. د مثال په توګه:

۱- ځينې ځمکې ډيرې حاصل خيزې او ځينې نورې بې لږ حاصل کوی.

۲- ځينې سيمې معدنونه او دلوړ قيمت منابع لري لکه سره زر، اوسپنه، نفت او ګاز،خوځينې سيمې له دې ډول معدنونو څخه بې برخې دي، سربيره پردې، ځيني طبيعي حوادث لکه: سيلاو، وچکالي، او طوفانونه هم د خلکود ثروت او مالونو دله منځه تللو سبب ګرځي. ياد شويو توپيرونو ته په پاملرنه، هغه څوک چې په حاصل خيزو سيموکې ژوند کوي کولی شي په لږ زحمت ډير حا صل لاس ته راوړي. خو هغه خلک چې په کم حاصله سيمو کې ژوند کوي بايد ډير زحمت وباسي خو لږ حاصل لاس ته راوړي. همدارنګه هغه هېوادونه چې د سروزرو، او سپنې، نفت او ګازو معدنونه لري کولی شي د هغو د خر څلا و په بدل کې ښوونې او روزنې ته ارتقا ورکړي او په عمومي امکاناتو کې زياتوالې راولي او خپلو صنايعو او خپلې کرنې ته وده او پراختيا ورکړي. په داسې حال کې چې نور هېوادونه د دې ډول امکاناتوڅخه بې برخې دي. نو ويلی شو چې حاصل خيزې ځمکې، مناسبه آب و هوا او قيمتي معدنونه د ثروت دلرلو سبب اونه درلودل بې د غريبۍ او نيستۍ سبب ګرځي.

ټولنيز لاملونه

ديا دشويو لاملونو ترڅنګ، ټولنيز لاملونه هم په طبيعي سرچينو دانسان د لاس رسی او يا هغو ته د لاس په نه رسېدو اغېزه لري. طبيعي شتمنۍ او امکانات په هره ټولنه کې د اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیستم په واسطه ویشل کیږي.که دا سیستم عادلانه او د تعصب او تبعیض څخه خالي وي، وګړي د خپل استحقاق له مخي له امکاناتو او صنایعو څخه ګټه اوچتوي او که چیرې اقتصادي اوټولنیز نظام عادلانه نه وي نو یوازې کم خلک به له دې نعمتونو نه برخمن او نور خلک به له هغو څخه بې برخې وي. هغه ټولنه هوسا او شتمنه کیدلی شي چې هر وګړی یې د خپل لیاقت او وړتیا په اساس د ټولنې د امکاناتو او منابعو څخه ګټه ترلاسه کړي.

په ټولنه کې د نیستۍ او فقر لوی لامل د سیاسي، ټولنیز او امنیتي ثبات نشتوالی دی کومه ټولنه کې چې له سیاسي ثبات او آرامۍ نه بې برخې وي خلک له زیاتو امنیتي ستونزو سره مخامخ کیږي او ټول غښتلي استعدادونه په کړکیچونو کې په مصرف رسیږي او ټول پروګرامونه د خپل سیاسي بنسټونو د ځواکمنۍ او د مخالفینو د له منځه وړلو په لاره کې محدود پاتې کیږي او په پایله کې ټولنه په نیستۍ اخته کیږي همدارنګه کله چې په ټولنه کې ټولنیز ثبات موجود نه وي خلک تل له یوه بنار څخه بل بنار ته تینبته او کډه کوي چې دا حالت له دوی نه په معیشتي چارو کې د نوښت ځواک او توان اخلي اوکه چیرته له ټولنې نه امنیت خپل ټغر ټول کړي هېڅکله به د اقتصادي ریښو د قوت او ودې خیال په ذهنونو کې غوټۍ ونه کړي.

زمونږ ګران هېواد افغانستان چې د ځلانده تاریخ او د با ارزښته او قیمتي سرچینو درلودونکی دی، خو په خواشینۍ سره اوس د ډیرو نیستمنو اوغریبو هېوادو په ډله کې راځي. د هېواد د غریبۍ لاملونه په دې تاریخي مرحله کې عبارت دی له:

۱- **د اوږدې مودې جنګونه**: زمونږ خلک درې لسیزې د دین او خپل هېواد د آزادی لپاره او وروسته بیا په داخلي جنګونو اخته شول په دې موده کې نه یوازې د هېواد د ودې او پراختیاله لپاره کارونه شو بلکه د ملت موجوده سرمایه هم له منځه لاړه. د هېواد بنسټیز اقتصاد، لکه کارخانې او اقتصادي تاسیسات د صنعت، کرنې او نورو ټولو برخوکې په عمومي ډول له منځه ولاړل.

۲- **د بحران په دې کلونو کې د اداري، فرهنګي، ټولنیز نظم او انظباط له منځه تلل**: چې د دې نظم اوانظباط له منځه تلل دخلکو په کړو وړو کې د ګډوډۍ اود با ثباتو اقتصادي فعا لیتونو دمخنیوي لامل وګرځیدل.

۳- **بې سوادي او ناپوهي**: د جنګ د کلونو په اوږدوکې په هېواد کې زیاتره بنوونځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلي وو او داکار د دې سبب شو چې زمونږ يونسل تقريباً په عمومي ډول بې سواده او ياکم سواده پاتي شي. په دې مشکل باندې بريالي کيدل يو ملي عزم ته اړتيالري چې په سرکې د افغانستان د اسلامی جمهوريت دولت چې د ملت له ځواک اوارادونه استازيتوب کوي، ريښتينې طرحې جوړې کړي او د خلکو په مرسته يې پلي کړي. ترڅو دغه ملت چې د يوه آزاد او پتمن ژوند مستحق دی، له غريبی او نېستی چې د دوی د خواری او ذلت سبب ګرځي خلاصون پيداکړي.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- د غريبی فردي لاملونه شرحه کړئ؟

۲- د غريبی د ټولنيزلاملونو نوم واخلئ.

۳- د غريبی او فقرطبيعي لاملونه کوم دي؟

۴- ولی زمونږ ګران هېواد له غريبی سره لاس په ګريوان دی؟

۵- څنګه کولی شو د خپل هېواد څخه د غريبی لمن ټوله کړو؟

کورنی دنده

که و غواړئ د خپلې کورنی اقتصادي سطحه لوړه کړئ:

۱- آيا نور منابع په واک لرئ چې وکړی شي له هغو څخه ګټه واخلي؟

۲- ايا دخپلې کورنی ځينو غړوته ديوه بل کار وړاندیز کوئ؟

۳- ايا د کورنی ځينې غړي د نويو مهارتونو زده کړې ته اړتيا لري؟

د پورته پوښتنو په هکله له خپلو لويانو سره وغږيږئ او ځوابونه يې په خپلو کتابچوکې وليکئ او ټولګي ته يې واوروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(زمورِ ټولنيزې ستونزې:(استو ګنځی

پرتله يې کړئ

مورِ ټول کورونوته اړتيالرو ځينې خلک په کورونو او ځينې نوريې په خيمو او کړديوکې ژوند کوي. ستاسې له نظره.

۱- ولی انسان کورته اړتيا لري؟

۲- که مورِ د اوسيدلو ځای ونه لروخه کيږي؟

۳- څه بايد وکړو چې ټول مناسب استوګنځي ولرو؟



په ډيرو پخوا زمانوکې انسانانو د خپلو ځانولپاره د اوسيدلو ځايونه ټاکل او له ګرمی او يخنی څخه د ساتلو لپاره يې کورونه جوړول. د بشر د پوهې او تکنالوژی له پرمختګ سره سم، کورجوړونی هم بدلون وموند. د انسان ساتنې د ضروري اړتياوو د پوره کيدو سربيره، د ښکلاپيژندنې برخې ته هم پام واړول شو. همدارنګه په بيلابيلو ټولنوکې د دوی د فرهنګ او د ديني ارزښتونو سره سم په مختلفو سبکو نوکورونه جوړ شول.

د ډيرو پرمختګونو سره سره چې بشر په بيلو بڼلو برخوکې لاسته راوړل، کورونه هم په ډير ښکلي او مجلل، او د ژوندانه د هوسايني په ټولو وسايلو مجهز جوړ شول. د استوګنځايونو دکمښت له منځه وړل د بشر له ډيرو مهمو اړتياوو څخه شمېرل کيږي. حتی د نړۍ په ډيرو پر مختللو هېوادونوکې، ډيرې کورنۍ مناسب شخصي کورونه نه لري او مجبور دي چې په هره مياشت کې د پام وړپيسې د کورو دکرايې او اجارې په نوم ورکړي. زمورِ هېواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببلابېلو دلايلو د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې د مناسبو کورونو کمښت د هغوی له جدي ستونزو نه شمېرل کیږي. په ښارونوکې د کورونو د کمښت ځینی مهم دلیلونه عبارت دي له:

۱- کډوالي یا مهاجرت

د جهاد او د جنګ د کالو په اوږدوکې ډیر زیات خلک له کلیو او ښارونو څخه لرې او نږدې هېوادوته کډه شول. له ۱۳۸۱ کال څخه وروسته نسبتاً د امن فضا زمونږ په هېواد کې رامنځته شوه. زمونږ یوزیات شمېر مهاجر هېوادوال وطن ته راستانه شول او په کلیو او ښارونوکې یې استوګنه غوره کړه، خو له هغونه زیات شمیریې د هېواد پایتخت او یا په نورو لویو ښاروکې استوګن شول. په ځانګړي ډول دکابل په ښار کې د هغه د ظرفیت نه څو برابره لوړ خلک ژوند کوي.

۲- داستوګنځي د ستونزو د حل لاره

په لومړی سرکې دولت کولی شي. د موجوده ماسترپلان په تطبیقولو او د ښارجوړونې د هغو نقشواو پلانونو له مخې چې په لاس کې یې لري اقدام وکړی. ځمکې مستحقو خلکو ته وویشي تر څو خلک مجبورنه شي چې بې نقشي او پخپل سر کورونه جوړکړي. دریم داچې عمومي امکانات خلکوته برابر کړي د مثال په ټوګه: کله چې ځمکه د جوړولو لپاره خلکو ته ورکړل شوه او کورونه یې جوړکړل نو دولت باید د هغو سرکونه او کوڅې په پاخه ډول جوړ کړي. د صحي اوبو نلونه کورونوته و غزوي. د نلدوانی سیستم یې فعال او د فضله موادو د دفعې سیستم یې جوړشي.

څرنګه چې په تیرو لسیزو کې په هېواد کې جګړې دوام درلود او ډیرې و دانی یې ویجاړې کړې، د خلکو کورونه اوښارونه ویجاړ شول او خلک بې کوره شول. پدې ورستیو کلونوکې د دولت د پاملرنې، هڅو، پلانونو او طرحو درلودلو سره سره بیاهم د هغو ستونزو له امله چې موجودې وې تراوسه هم داخورا مهم ټولنیز مشکل ندی حل شوی.

په هر صورت د استوګنځي ستونزه د خلکو یوه جدي ستونزه ده. دا هیله موجوده ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو پلانونو او طريقو په تطبيق سره چې دولت يې په لاس کې لري، او دخلکو په مرسته دا ستونزه حل شي.

۳- د تعميراتي موادو قيمتي

تعميراتي مواد له ګاونډيو ملکو څخه زمونږ هېواد ته رالېږدول کيږي، څرنګه چې په وروستيو کلونوکې زمونږ داخلي توليداتو ته په زياته پيمانه زيان رسيدلی دی او تر اوسه لازمې بياجوړونې نه دي شوې، تعميراتی وارداتي مواد د نا امنی، د مواصلاتې لارو د خرابوالي په نسبت ډير ګران دي. دا په داسې حال کې چې زمونږ خلک د اقتصادي ستونزو له امله د دې موادو د لوړې بېې له امله د اخيستلو توان نه لري. سربيره پردي په ښارونو اوکليوالي سيموکې هم زيات خلک کورونه نه لري. هغه څوک چې ځمکه نه لري په طبعي ډول له کور څخه هم بې برخې دي. کليوالي کورونه هم له صحي امکاناتو نه برخمن نه دي او يوازې د ګرمی اوسړو مخنيوی کوي. نو ځکه د کور مشکل يوازې په ښارکې نه بلکه په کليوالي سيموکې هم دا ستونزه وجود لري.

اوس بايد څه وکړو؟

د دې مشکل دحل اوټولو هېواد والو ته د استوګنځي دتأمين په موخه، هم دولت او هم خلک بايد هلې ځلې وکړي. هغه کارونه چې دولت يې بايد سرته و رسوي عبارت دي له:

۱- **د هيواد ټولوښاروته د ماسترپلان جوړول**: دولت دې د ښارونو نقشې جوړې کړي ترڅو خلک وکړئ شي چې په مناسب قيمت ځمکه واخلي او د کورونو جوړولو ته بډې ووهي.

۲- **د عمومي خدمتونو وړاندې کول**: دولت دټولو ښارونوپه ځانګړي ډول د استوګنې د کورو لپاره عمومي خدمتونه لکه: اوبه، دفضله موادو د دفعې سيستم،برښنا، تيلفون، سړک او پخه شوې کوڅه جوړه کړي.

۳- **د استوګنې د بلاکو جوړول**: يو ډيرمهم کارچې د دولت په مخکې پروت دی هغه دادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دولت ارزانه کورونه خو په ټولوسایلو مجهز کورونه جوړکړي او خلکو ته يې ورکړي. د ارزانه کورونو د جوړولو ډيره ښه لاره د استوګنې د بلاکونو جوړول دي. بلاکونه که په ښه طرحه او نقشه جوړشي. ډيروخلکو ته به په لږه فضا کې هوسا ژوند ورپه برخه شي.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- زمور په هېواد کې دکورونو دکمښت مهم لاملونه وښياست؟

۲- ولې زمور هېواد والومهاجرت وکړ؟

۳- د دې لپاره چې خلک په خپل سر کورونه جوړ نه کړي، دولت بايد کوم کارونه سرته ورسوي؟

۴- دولت او د کور جوړونې کمپنۍ د هېوادوالو د کورونو د کمښت په خاطر کوم کارونه بايد سرته ورسوي چې زمور خلک د کورونو(اپارتما نونو) خاوندان شي.

۵- د کورونو د کمښت په هکله ستاسې وړاندیزځه دی، ويې ليکئ.

کورنی دنده

د مور او پلار په مشوره او مرستې سره د استوګنځي په اړه ټولنيزې ستونزې په څوکرښو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمور ټولنيزې ستونزې: روغتيا

پرتله يې کړئ

سلامتي د لوی خدای (جل جلاله) ډيرلوی نعمت دی لاندې پوښتنې په غورولولئ او د هغو په باره کې سره وزغيږئ.

۱- ولې روغتيا او سلامتي مورږته ارزښت لري؟

۲- که روغتيا موله لاسه ورکړه له کومو ستونزو سره به مخ شو؟

۳- بايدځه وکړو چې جوړپاتې شو او ناروغ نه شو؟

ناروغي د بشر د ډيرو لويو دښمنانو څخه دی. اوتاسې د عمر په اوږدوکې په عادي او سختو ناروغيو اخته شوي ياست او په پای کې زياتره د ناروغيو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوو.

سربيره په دې کله هم ساري ناروغۍ په انسانانو حمله کوي او ډيرزيات شمېر خلک له منځه وړي. په پخوا زمانوکې انسانان په ډير ناوړه او خطر ناکو ساری ناروغيو اخته کېدل او په زيات شمېر خلک يې له منځه وړل او کله هم د وبا او طاعون په واسطه ډير خلک له منځه تللي دي.

هغه زيانونه چې انسان ته له ناروغيو څخه پيداکيږي عبارت دي له:

۱- درد او ربړ،

۲- د انسان دګټور فعاليت مخنيوی،

۳- هغه پيسې چې انسان يې د تداوی لپاره لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د انسان مړينه.

۵- د نفوسو کمښت: لکه څرنګه چې له دې مخکې ورته اشاره وشوه، په هغه صورت کې چې ناروغي ساري وي او انسان ونه شي کړای چې له هغه نه مخنيوی وکړي، ناروغي کولی شي د يوې سيمې په انساني نفوس کې کمښت راولي اويا يې بيخي له منځه يوسي.

سره د دې چې ناروغی په بشپړ ډول له منځه نه ځي خو په ننني نړۍ کې ډيرې ناروغۍ د مخنيوی او درملنې وړدي، څرنګه چې رسول ﷺ فرمايلي دي: (خدای ﷻ ناروغي نده پيدا کړي خو هغه ته يې درمل هم پيدا کړی.)نو له درملو نه استفاده وکړئ. . هغه ناروغۍ چې هره ورځ يې په زرګونو وګړي په لنډه موده کې له منځه وړل په آسانی سره د درملنې وړدي نوځکه نن ورځ مور ته دامسئله مهمه ده چې لومړی بايد د خپل ژوند شرايط داسې جوړ کړو چې په ناروغيو اخته نه شو. دوهم دا چې کله ناروغه کيږو، بايد وکولی شو خپل ځان تداوي کړو چې د علاج وړ ناروغيو له امله له منځه لاړ نه شو.

خوار ځواکي(سؤتغذي)

د انسان دروغتيا لومړنی شرط دادی چې ښه خوراک اوکامله غذا ولري. په هغه صورت کې چې انسان په بشپړه توګه تغذيه نه شي، بدن يې په طبيعي ډول وده نه کوي او په پايله کې دنا روغيو په وړاندې خپل مقاومت له لا سه ورکوي اوبدن يې په خوار ځواکۍ اخته کيږي.

د غير صحي خوړو څخه استفا ده کول

د انسان خواړه بايد صحي وي. که انسان له غير صحي خوړو څخه استفاده وکړي، له بېلابېلو ناروغيو سره مخامخ کيږي. زمور په هېواد کې د ساتلو د وسايلو د کموالي له امله خواړه مخکې تردې چې خلکو ته ورسيږی، فاسد او خرابيږی. خراب او فاسد خوراکي شيان د خلکو د راز راز ناروغيو سبب ګرځي. سربېره پردې دا خواړه د روغتيا وزارت لخوا په کمه اندازه ترځارنې لاندې نيول کيږي. رستورانونه او هوټلونه روغتيايي اصولو ته سمه پاملرنه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپېريال او ککړه هوا

پاک چاپيريال او پاکه هوا د ژوندانه يوبل مهم شرط دی. په ښارونو کې د ډير شمېر هغو نقليه وسايطو فعاليت چې دود توليدوي. له بې کيفيته تيلو نه استفاده کول او په لسګونونور عوامل د هوا د ککړيدو لامل ګرځي چې د لويانو ،ځوانانو او د کوچنيانو په روغتيا او سلامتي نا وړه اغيزه کوي او هېواد وال په ډول ډول ناروغيو اخته کوي. ځرنګه چې ټولنه د ښارونو په پرمختيا اوکورنۍ د کوچنيانوپه وده کې رول لري، همدارنګه د ژوند چاپيريال هم د کوچنيانو په وده کې رول لري. په افغانستان کې د مړينې جګه کچه تر پنځه کلنۍ پورې په کوچنيانو کې ليدل شوې ده. زياتره داکوچنيان د ساري ناروغيو او همدارنګه د ساتنګۍ د ناروغيو له امله او د خوار ځواکۍ، ملاريا او شري له امله له منځه ځي. نس ناستی د هغو ککړو اوبو له استعمال او څښلو نه منځ ته راځي چې د ژوند په چاپيريال کې وجود لري او تنفسي نا روغتيا دهوا له ککړ تيا نه منځ ته راځي چې د کوچنيانو د مړينې لامل کرځي.

د ملاريا د خپريدو لامل ولاړې او ورستې اوبه دي چې د ملاريا دغماشي په واسطه انسان ته انتقاليږي. لنډه داچې د ټولو ساري ناروغيو منبع د ژوندککړ چاپيريال دی.

نو لازمه ده چې دولت او خلک د ژوند د پاک اوروغ چاپيريال په ساتنه کې پاملرنه وکړي او د چاپيريال د روغتيا او د هوا د ککړتيا مسآلې ته د خپلو چارو د سرته رسولو په لومړي سرکې ځای ورکړي.

د روغتيايي او درملنې د امکاناتو کموالی

د هغو ستو نځو سره سره چې د روغتيا په برخه کې بې لرو، معياري کلينيکونه او روغتونونه هم په افغانستان کې ډير لږ لرو.که ټول امکانات موجود وي، نو متخصص ډاکتران کم لرو. له همدې کبله ده چې په کال کې په زرګونوخلک د درملنې لپاره بهر نيو هيوادو نو ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د۵۲ مادې مطابق **دولت مکلف دی د قانون د احکامو سره سم ټولو اتباعو ته د ناروغيو د درملنې وسايل او روغتيايي آسانتياوې په وړيا توګه برابرې کړي.**

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- د ځينو ساري ناروغيو نه نوم واخلئ.

۲- له نا روغۍ کوم زيانونه سړې ته رسيږي؟

۳- څنګه کولی شو چې د ناروغيو په وړاندې ځان وقايه کړو؟

۴- خوار ځواکي څه شی ده؟

۵- له غير صحي خوړو څخه ګټه اخيستل د سړي په بدن باندې څه اغيزه کوي؟

کورنۍ دنده

ککړه هوا د انسان په بدن باندې څه اغيزه لري؟په دې باره کې څو کرښې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمور ټولنيزې ستونزې: دنيشه يې توکو قا چا ق

خبرې اترې پرې وکړئ

ځينې وګړي خپله او دنورو روغتيا د نيشه يې توکو په توليد او قاچاق کولو له خطر سره مخامخ کوي.

ستاسې په آند

۱- د نيشه يې توکو استعمال زمور لپاره کوم زيانونه لري؟

۲- آيا نيشه يې توکي زمور د هېواد لپاره يوه لويه ستونزه ده؟ څه ډول؟

۳- د نيشه يې توکو توليد، استعمال او قاچاق څرنګه وګرنيزې او ټولنيزې پايلې لري؟

۴- څه ډول کولی شو چې دا ستونزه له منځه يوسو؟

ن ورځ نيشه يې توکې زمور د هېواد، سيمې او نړۍ له مهمو ستونزو څخه شمېرل کېږي. د جګړې په بحراني کالونو کې بېلابېلو ډلو په افغانستان کې د خپل فعاليت زمينه مساعده وليده او په لرو پرتو سيمو کې يې د دولت دنه کنترول په وجه ، په خپل ناوړه فعاليت لاس پورې کړ. ځينو ډلو او د مخدره موادو د قاچاق برانو په طرفداری خلک د اپينو(تریاک) کرلوته وهڅول چې له دې امله زمور ګران هېواد ن ورځ په نړۍ کې د مخدره موادو په ستر توليدونکي هېواد بدل شوی دی. په افغانستان کې د مخدره موادو توليد د بين المللي مافيا په مرسته ترسره کيږي او دوی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصلات چې په افغانستان کې تر لاسه کوی اروپايي او امريکايي هېوادونو ته قاچاق کوي.

مخدره مواد هغو موادوته ويل کيږي چې استعمال يې د انسان شعور له اختلال سره مخ کوي اپين يا تریاک ډير خطرناک مخدره مواد دي چې له دې موادو څخه لا خطرناک مواد لکه هروئين جوړيږی. د مخدره موادو کښت او قاچاق زمور دولت او ملت ته ډيرې ستونزې رامنځته کړيدي چې مهمې برخې يې دادي.

د ګټورو محصولاتو له کرلو څخه مخنيوی

د اپينو د کرنې لومړنی زيان چې د هغې په کرلو بزګران له ګټورو محصولاتو څخه چې ټولنه ورته اړتيا لري، وروسته پاتې کيږي.

ډيرګتور محصولات و جود لري چې بزګران کولی شي د هغو په کرلو ښه ګټه ترلاسه کړي او هم خپلو خلکو او ټولنې ته خدمت وکړي. ولی د غنمو، اوربشو، لوبيا، پنبې او داسې نورو پرځای خپلې شتمنې ځمکې او د کارکولو ځواک د داسې محصولاتو کښت ته ځانګړې کړوچې د نورو ژوند له خطر سره مخامخ کړي؟

رو ږ د ی کيدل يا اعتياد

کله چې اپين او نورمخدره توکي په هېواد کې وکرل شي او په ارزانه بيه د خلکو لاس ته ورشي، نوی ځوانان د هغو استعمالولو ته مخه کوي او معتاد کيږي.

اعتياد په دې ډول موادو انسان ناجوړه کوي او هغه د ګټورکار او فعاليت څخه پاتې او سرغړو نو اوجرم کولوته يې اړباسي، کله چې په يوه هېواد کې د معتادينو شمېره زياته شي، د کورنيو، خلکو او دولت د ستونزو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اداری فساد تشدید

څرنګه چې د مخدره توکو قاچاق منع دی، قاچاقچیان هڅه کوی ځینې دولتی مسئوولین (په ځانګړې ډول د پولیسو په اداره او محکموکې) په بیه واخلي او خپلو فعالیتونو ته لاره هواره او آسانه کړي. دوی کله کله ځینې لوړ پوړي دولتي چارواکي د پیسو په بدل کې له ځان سره ملګري کوی ترڅو د دوی له نفوذ څخه ګټه واخلي. نوله همدې امله اداری فساد پراخیږي او د هغې د کموالی لپاره هڅې د ناکامی سره مخ کیږي، ځکه چې د دولت په د ننه کې ځینې کړی د اداری فساد د پراخیدو څخه ملاتړکوي.

نا امنی او تاو تریخوالی

کله چې دولت کوښښ کوي چې د مخدره موادو دقاچاق مخه ونیسي. قاچاق کوونکي له خپلو ټولو امکاناتو څخه په ګټه اخیستلو هڅه کوي چې د دولت د تدبیرونو په وړاندی و دریږي او خپل فعالیت ته ادامه ورکړی. د دوی یوه لاره ددولت دهڅو په وړاندې اداري فساد ته شدت ورکول دي چې په دې هکله وړاندې توضیح ورکړل شوه. بله لاره د نا امنی رامنځته کول او د تاوتریخوالي نه استفاده کول دي.

څرنګه چې قاچاق کوونکي له دې لارې زیاتې پیسې لاسته راوړي نو په ډیرو عصر ي وسلو سمبال دي.د شرایطو د برابرېدوپه صورت کې له هغو نه د خلکو او دولت په مقابل کې کار اخلي نوځکه ننشه یي مواد له نا امنی اوترهګری سره نږدې اړیکې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- نېښه يې توکي څه شی دي؟

۲- د نېښه يې توکو زيانونه بيان کړئ.

۳- د تریاکو په کرلو سره زمونږ بزګران له کومو زراعتي محصولاتو څخه بې برخې کېږي؟

۴- د نا امني او تاوتریخوالي په باره کې یو څو کرښې ولیکئ.

۵- اعتیاد او روږدي کیدل څه شی دی، په دې هکله یو څو کرښې ولیکئ.

کورنۍ دنده

د نېښه يې توکو له منځه وړلو په باره کې خپل وړاندیز په ځوکرښو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ټولنيزې ستونزې، نا امني او تر هګري

خبرې اترې پرې وکړئ

لاندې پوښتنې په غور ولولئ اوځواب ووايئ

۱- هغه ستونزې چې زمونږ خلک يې زغمي، نومونه يې واخلئ؟

۲-کوم لاملونه د نا امنۍ سبب ګرځي؟

۳- ددې لپاره چې با امنه ټولنه ولرو، کوم کارونه بايد سرته ورسو؟

مونږ په ټولنه کې هرډول اقتصادي، سياسي، فرهنګي، او ټولنيزو فعاليتونوته اړتيا لرو. دا فعاليتونه هغه وخت امکان لري چې پوره امنيت وجود ولري، که د کار لپاره پوره امنيت وجود ونه لري، وګړي، سازمانونه او نور د عادي کار او فعاليت څخه پاتې کيږي.

له هرڅه نه مخکې بايد د امنيت مفهوم شرحه کړو. امنيت په ټولنه کې هغې وضعې ته وايي چې خلک د ډاډ اوآرامۍ احساس وکړي، او د هېڅا او هېڅ سازمان له خوا ورته ګواښ مو جود نه وي. د بيلګې په توګه: که څوک يو کار کوي او د هغه کار له هېڅ ګواښ سره مخامخ نه وي، نو ويلی شو چې هغه د کار کولو امنيت لري. او يا که خلک پرته له ويرې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګواښ څخه په خپل ژوند او چارو بوخت وي او د خپل ژوند او مال په اړه له چا نه وېره ونه لري، نو هغوی د ځاني او مالي امنیت نه برخمن د ي. له دې معلومیږی چې امنیت ډولونه لري چې ډیرمهم یې عبارت دي له: رواني ، اقتصادی، سیاسي، ټولنیزاو ځاني امنیت څخه. په عمومي ډول ویلی شوچې امنیت په دوو ډلو رواني او فزیکي امنیت ویشل شوی دی.

رواني امنیت هغه وخت حاصلیږي چې کامل امنیت وجود ولري. او فزیکي امنیت د امنیت ډیرکم حددی، که فزیکي امنیت وجود ونه لري د خلکو ژوند ته خطر پیښیږي په دې صورت کې به رواني امینت هم وجودو نه لري.

د نا امنۍ لاملونه

نا امني هغه وخت را منځته کیږي چې ټولنیز قواعد اورسمي قوانین د ځینو دلایلو له امله خپل اخلاقي او پرګنیز ملاتړ له لاسه ورکړی وي. چې یو شمېر له دې فرصت نه ناوړه ګټه پورته کوي او د خلکو ځان اومال له منځه وړل خپله موخه ګرځوي. نا امني ډیر لاملونه لري چې مهم لاملونه یې په لاندې ډول دي: جنګ (داخلی یا خارجي جنګونه) ترهګري، د مخدره موادو قاچاق او وسله والې غلاوې، سیاسي ایدیولوژیکي اختلافات او فرکسیون بازي. اوس زمونږ په هېواد کې د نا امنیو مهم لامل ویره اچونه ده. چې په دې لوست کې په لنډه توګه پرې رڼا اچوو.

ترهګري (ویره اچونه)

هرسازمان ورکړ شوی فعالیت چې د خلکو د وحشت، وېرې او نا ارامۍ سبب شي او سیاسي موخې ولري ترهګري یا (ویره اچونه) بلل کیږي. د دې تعریف له مخې هغه نظامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه او ډله ییز تبلیغات چې غواړي له دې لارې په دولت باندې فشار راوړي او خپلو سیاسي موخوته ورسیږي ترهګري بلل کیږي. زمور خلک له ډیرو کالو را هیسې د سیمه ییز او نړیوال ترهګرۍ قرباني شوي دي. ترهګري زمور د هېواد د نا امنۍ لپاره ډیرې بدې پایلې لري چې ځینې یې دادي:

د خلکو وژنې

ترهګر خپلو موخو ته د رسیدو لپاره حاضردي چې بېګناه خلک په قتل ورسوي.

د هېواد ویجاړول او خرابول

نا امني د خلکو او د بېلابېلو دولتي او خصوصي مؤسسو د ټرلو اوسقوط لامل ګرځي. ترهګري عملیات لکه ځنګه چې د خلکو ځان ته ګوابښ دی، همدارنګه د دولتي او خصوصي مالونو اوساختمانونو ته هم تاوان رسوي. او هره ورځ د دې پرځای چې هېوادمو آباد شي، ورانیږي.

د وخت ضایع کیدل

وخت د انسان لپاره ډیرمهم دی او باید هغه له لاسه ور نه کړو. نن ورځ هېوادونه په کم وخت کې په ډیرولویو پر مختګونو لاس بری پیداکوي. په داسې حال کې چې زمور خلک د نا امنۍ په دلیل او د ترهګرو د فعالیتونو له امله د موجوده ثروت سر ببره خپل کلونه کلونه وخت بې له دې چې کوم پرمختګ وکړو له لاسه ورکوو. اوس د دولت او ملت دنده ده چې په ټول توان هڅه وکړي چې د کار او فعالیت لپاره امنیت تأمین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- د کار امنیت څه معنا لري؟

۲ ترهګري څه شی ده؟

۳- په هېواد کې د نا امنۍ لا ملونه کوم دي؟

۴- ترهګري فعالیتونه هېواد ته څه پایلې لري؟

کورنۍ دنده

هغه ستونزې چې زموږ هېوادوال یې د نا امنی له پلوه زغمي، کومې دي؟

په دې باره کې څو کرښې ولیکئ او بیایې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمورِ ټولنیزې ستونزې: نا چاودلي توکي

خبرې اترې پرې وکړئ

زمورِ په ګران هېواد کې کلونه کلونه جنګ جریان درلود. هرې ډلې د خپلو قوتونو د ساتلو لپاره ماینونه ښخ کړي وو.

اوس هم د ځوکالو راهیسې یو زیات شمېر ناچودلي ماینونه او نورتوکي په ځای پاتې دي چې د خلکوژوندتهدیدوي. ستاسي له نظره:

۱- آیا تاسی تراوسه ناچودلې ماینونه او یا نور توکي لیدلي دي؟

۲- که چېرې ماین سره مخامخ شوئ څه کار کوئ؟

۳- د ماینونود مخنیوي لپاره کوم کارونه باید وکړئ؟

هغه هېوادونه چې د جنګ له مرحلې څخه تیرشي ترجګړې وروسته ډېر کالونه بیاهم د جګړې ستونزې ګالي. د ډېرو مهمو ستونزو څخه یوه بې د ماینونو او نا چوادلو توکو پاتې شونې دي او په کال کې د یو زیات شمېر هېواد والو د مړینې سبب ګرځي. په دې څوکالونوکې د ماینونو او ناچادلو توکو د ټولولو لپاره زیات فعالیتونه تر سره شویدي په تأسف باید ووایو چې زمورِ یو زیات شمېر هېوادوالو له همدې امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. له دې هڅو سره سره بیاهم زیات شمېر نا چودلي توکي تر اوسه هم تر خاورو لاندې دي چې زمورِ د هېوادوالو ژوند تهدیدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس بايد څه وکړو چې د ماينونو له خطر څخه وژغورل شو؟

ډيرکارونه په دې برخه کې بايد سرته ورسوو چې ډيرمهم يې دادي.

- يو اساسي کار دادی چې دولت بايد هلې ځلې وکړي چې ډيرژر ماينونه اونور ناچوادلي توکي راټول کړي او د هغې له احتمالي خطر څخه خلک وساتي
- بل ډيرمهم کار دادی چې خلک د ماينونو په خصلت و پوهوي او دا هم ور زده کړی چې د دې توکوسره څه ډول چلندوکړي. هغه خلک چې د ماينونوپه سيموکې ژوندکوي، بايد ډول ډول ماينونه وپيژني، د هغوی په خطرونووپوهيږي او له هغې سره د چلند زدکړه وکړي. چې خپل ځان له هغوی څخه وساتي.

د ماين پاکی مؤسسې چې په ملګروملتونو پورې تړلي مؤسسې دي، په دې هکله يې زيات کارونه سرته رسولي دي او ځينې هدايتونه يې د تبليغاتوله لارې کړي دي چې ټولو خلکو ته له ارزښت څخه خالي نه دي:

بحث وکړئ

ناچاودل شوی توکي څه شی دي؟

پلاستيکي،دلرګيو او اوسپنيزه نا پېژندل شويو توکو ته لاس مه ورورئ، کيدای شي چې ناچاودلي توکي او يا يو ډول ماين وي. هغه چاودېدونکي توکي چې چاودلي نه وي، د نا چاودل شويو توکو په نامه يادېږي. نا چاودل شوي توکي عبارت له: راکټ، نارنجک، بمونه او داسې نور دي. نا چاودل شوي توکي له فلزاتو، لرګيو او پلاستيک نه جوړ شويدي، او د اقليم له بدلون سره خپل رنګ ته بدلون ورکوي اوکوم مهمات چې له فلز نه جوړ شوې دي زنګ يې وهي او پېژندنه يې ډېره مشکله وي. په دې توګه په هغو ساحوکې چې دا توکي نه پېژنو بايد د سيمې مشرانو او يا د ماين پاکۍ دفتر ته خبر ورکړو، ترڅو هغه له منځه يوسي. ز ياتره نا چاودلي توکي د ځمکې پرمخ پراته وي او د هغوی له خطرونو نه مخنيوی ډيرآسانه ده. په داسې حال کې چې ماينو نه زياتره د ځمکې لاندې ښخ وي او د هغو د خطرونو نه مخنيوی ستونزمن دي. خو نا چاودلي مهمات کولی شي د ماينو نو په پرتله د ډيرو تلفاتو اويا د انسانانو او حيواناتو د ټپي کيدو لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. (د حب الو طن من الايمان) د مقولې په بنسټ؛ وطن، د هېواد په هر وګړي حق لري. هېواد د مور په شان دی، څرنګه چې په او لاد خپل مور او پلار ګران وي نو د ټولنې په افرادو هم باید خپل هېواد ګران وي. په داسې حال کې چې د ناچاودل شویو توکو او ماینونو خطر هېواد ته یو ګواښ دی نو د هېوادټولو اتباعو ته لازمه ده چې ماینو نه ښخ نه کړي او همدارنګه کله چې نا چاودل شوي توکي ووینې هغو ته لاس ورنه وړي بلکه یو صلاحیت داره اداري ته باید خبر ورکړي چې په دې ډول خپله ایماني او وطني دنده سرته ورسوي.

د لوست تکرار

- .....
- .....
- .....
- .....
- .....

پوښتنې

۱- نا چاودلي توکي څه شي ته وایي؟

۲- ولې خبر شوي ما ینونه اونا چاودلي مهمات دځمکې پرمخ پاتې دي؟

۳- ماینوونه او نا چاودلي مهمات څه خطر لري؟

۴- کله چې له ماینونو سره مخامخ شې څه کار به سرته رسوئ؟

۵- څنګه کولی شو چې دنا چاودلو مهماتو او ماینونوله شرنه په امن کې پاتې شو.

کورنۍ دنده

دا چې څنګه کولی شو د ماینونو او نا چاودلو توکو او مهماتو له خطرنه په امان کې پاتې شو، په دې باره کې څوکرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پنځم څپرکي لنډيز

• انسانانو ډيره موده د ځمکې پر مخ ژوند وکړخو په لوست او ليک نه پوهيدل. په هغه وخت کې د تير نسل تجربې به په شفاهي اوعملي توګه له يو نسل نه بل نسل ته انتقاليدلې.

• نيستي(غريبي)، د ژوند د لومړنيو اړتياوو دنه لرلوچې انسان هغه ته ضرورت لري په معنا ده. نيستي داسې غميزه ده چې د تاريخ په اوږدوکې يې وګړو ته ربړونه ور په برخه کړېدي.

• هغه ټولنه هو ساينې او شتمنۍ ته لاس رسی پيدا کوي چې وګړي يې د خپل توان او وړتيا په کچه د ټولنې له امکاناتو او منابعو نه ګټه لاس ته راوړي.

• د ډيرو پرمختګونو سره سره چې بشر لاس ته راوړي،خود استوګن ځای ستونزه لا هم دوکړو له ډيرو مهموستونزو څخه شمېرل کيږي.

• ناروغي تل دوګړو د ښمنه ګڼل کيږي. د ژوند په اوږدو کې مور هريو په ساده اوسختو نا روغيواخته کيږو او په پای کې د همدې ناروغۍ له امله ژوند له لاسه ورکوو.

• د انسان د سلامتيا لومړنی شرط ښه خواړه او مکمله غذاده.

مور په ټولنه کې په مختلفو اقتصادي، سياسي، فرهنګي او ټولنيزو فعاليتونو بوخت يو دا فعاليتونه هغه وخت ممکن دي چې بشپړ امنيت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library